د پوهنې وزارت

د تعليمي نصاب د پراختيا او

درسي کتابونو د تألیف رياست

# پښتو

## نهم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ . ش

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او

درسي کتابونو د تالیف ریاست

# پښتو

## نهم ټولګی

درسي کتابونه د پوهنې وزارت پورې اړه لري. په بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.له سر غړوونکو سره قانوني چلند کېږي.

د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـــ . ش.

# دبیا کتنې کمېټه

## د ژبې او محتوا کمېټه:

**ـ سید احمد مومند د پوهنې وزارت سلاکار.**

**ـ د مؤلف مرستیال محمد عزیز تحریک د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی او د پښتو دیپارتمنټ آمر.**

**ـ اقامحمد ګړندی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.**

**ـد سر مؤلف مرستیال امین الله نژند د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.**

**ـعبید الله همت د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.**

**ـ عبد الوحید غفوري د انصاري لیسې استاد.**

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:

**ـ ډاکتر محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.**

**ـ محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.**

**ـد مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.**

# د څارنې کمېټه:

**ـ دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس**

**ـ محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.**

**ـ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.**

## کمپوز او ډیزاین:

**ـ صفت الله مومند او نصرالدین ناصر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تـــألیف ریاست د کمپیوټر دیپارتمنټ غړي.**

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی څوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام له پیل څخه ملي سترو مـوخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نوو پروګرامونو تګلاره پیل کړې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې او د معارف د نوي کیدو او غوړیدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چې تر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست ته دنده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځواب وواییې. زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغانې ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیار شوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختګ سره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساینس او تکنالوژۍ له بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سولې، هېوادپالنې، ملي یوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.

موږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلو او پیاوړي کولو کې مرستې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکو هېوادونو او درنو سازمانونو (د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانک اویونیسکو)څخه چې دکتابونو په تالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

**دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر**

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| حمد | ۱ |
| نعت شریف | ۲ |
| د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت لومړۍ خطبه | ۳ |
| د پښتو ادبیات | ۵ |
| د پښتو ژبې نالیکلي ادبیات | ٦ |
| نالیکلي ادبیات | ۸ |
| د نالیکلو ادبیاتو ډولونه | ۱۰ |
| لنډۍ | ۱۱ |
| تاریخي نارې | ۱۳ |
| نکلونه | ۱۴ |
| د نکلونو نارې | ۱۵ |
| متلونه | ۱۷ |
| پښتو لنډې نالیکلې کیسې | ۱۹ |
| کیسۍ (چیستان) | ۲۰ |
| د پښتو د نالیکلو ادبیاتو ارزښتونه | ۲۱ |
| لیکلي پښتو ادبیات | ۲۳ |
| د پند مرهم | ۲۵ |
| نوی ډاکټر | ۲٦ |
| کار او عمل | ۲۸ |
| صفت (ستاینوم) | ۳۱ |
| مجرد صفتونه | ۳۳ |
| سوداګر | ۳۴ |
| دوه لېوني | ۳٦ |
| نفاق | ۳۷ |
| پاچا او غوړه مالان | ۳۹ |
| مصدر او د هغه ډولونه | ۴۲ |
| د مصدر معنوي ډولونه | ۴۳ |
| نصیحت | ۴۵ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| حمید مومند | ۴۶ |
| چاته په سپکه سترګه مه ګوره! | ۴۹ |
| فعل او د هغه ډولونه | ۵۱ |
| پندونه | ۵۶ |
| میرزا خان انصار ي | ۵۸ |
| مېرمن نازو | ۶۱ |
| د افغان حال | ۶۴ |
| قیدونه | ۶۵ |
| متلونه | ۶۶ |
| دا خنګه کېدلای شي | ۶۷ |
| د شاعر مدحه | ۶۸ |
| غزل | ۶۹ |
| وایي چې | ۷۰ |
| د ځان وير | ۷۱ |
| یووالی | ۷۲ |
| زده کړه | ۷۴ |
| دوه رنګي | ۷۵ |
| عزت | ۷۷ |
| ترجمه | ۷۸ |
| زلزله | ۸۱ |
| مثنوي | ۸۲ |
| د نشې زیانونه | ۸۳ |
| ځلوریځې | ۸۷ |

# حمد

کل ثنا په هغه ښایي — چې ثنایې هر څوک وایي
که څوک کوز دي که څوک پاس دي — دده واړه په سپاس دي
هسې لوی عظیم پادشاه دی — چې آسمان دده مزګاه دی
ځمکه فرش ور باندې غرونه — ځای په ځای لکه مېخونه
دا همه دده صفت دی — چې د ملک زېب و زینت دی
په سجود ورته حجر دی — په قیام ورته شجر دی
ده آفتاب هسې رخشان کړ — ده مهتاب هسې تابان کړ
دی د ځمکې مخ زېبا کا — پرې زېبا ګلونه واکا
دی باران وکا یا واورې — مرغزار کا سپېرې خاورې
اول شنه بوټي پیدا کا — بیا ګلونه په کې واکا
بیا دی بوی کښېږدي په ګل کې — ښکلې پاڼو په سُنبل کې
که آدم اچوي اورته — څوک به سر نه کا ور پورته
نه دده د ملک زوال شته — نه یې مل، نه یې څوک سیال شته

سلطنت یې لا یزال دی
لایزال دی ذُالجلال دی

---

## سپارښتنه:

- ښوونکی دې د پورتني حمد د بیتونو مفهوم او مطلب په نثر ووایي.
- زده کوونکي دې یو یو بیت په خپلو کتابچو کې په نثر واړوي.

# نعت شریف

محمدﷺ له دنیا درومي جهان ژاړي — ځمکه ژاړي، غرونه ژاړي آسمان ژاړي
ژړوي مرغان د ونو په ښاخو کې — خاندان د نبوت په آرمان ژاړي
حسینؓ گوره په نارو په غلبلو شو — فاطمهؓ په خیرې خیرې گریوان ژاړي
د حضرت عليؓ له حاله خبر مه شې — صدیقؓ ژاړي، عمرؓ ژاړي، عثمانؓ ژاړي
عایشهؓ چې معشوقه د پاک رسولﷺ ده — صبر نه لري په آه و فغان ژاړي
تنها نه دی دا ماتم پر اهل بیتو — کلی کور د مدینې په سوزان ژاړي
خوراک نه کوي اوښان له هسې غمه — مخ وهي په دواړو لاسو بدوان ژاړي
جبرائیل وخوت له درده و آسمان ته — عزرائیل چې هم راوړی فرمان ژاړي
دا همه واړه ماتم د هاشمي دی — چې تر اوسه د چمن بلبلان ژاړي
دا فراق دی و هر چاته رسېدلی — عرب ژاړي، عجم ژاړي افغان ژاړي

ولې نه کوې ژړا "بهايي جانه"!
مديني تر خاورو لاندې ياران ژاړي

(بهايي جان)

---

## سپارښتنه:

ښوونکی دې د پورته نعت د بیتونو په مطلب رڼا واچوي.

زده کوونکي دې یو یو بیت په خپلو کتابچو کې په نثر واړ وي.

# د حضرت ابو بکر صدیق ﷛
# د خلافت لومړی خطبه

حضرت ابو بکر صدیق ﷛ د سقیفې له بیعت څخه وروسته په دوهمه ورځ نبوي جومات ته راغی او پرمنبر کېناست. له عام بیعت څخه وروسته راپور ته شو، تر حمد او نعت وروسته یې داسې وفرمایل:

"ای خلکو! زه پر تاسې باندې حاکم ټاکل شوی یم، خو له تاسې نه غوره نه یم. که ما سم کار کاوه نو په هغه کې را سره مرسته وکړئ او که ناوړه کار وکړم، نو ترې ایسار مې کړئ.

صدق او رښتینولي امانت دی، کذب او د روغ خیانت دی. ستاسې کمزوری او بې ځواکه ماته ځواکمن او قوي دی، تر څو مې هغه ته خپل حق ورکړی نه وي او ستاسې قوي او ځواکمن ماته تر هغه وخته کمزوری دی، ترڅو مې ترینه هغه حق نه وي اخیستی، چې په ذمه یې دی.

جهاد مه پرېږدئ، ځکه هغه قوم چې جهاد پرېږدي، الله تعالی پر هغوی خواري او ذلت راولي. په کوم قوم کې چې بې حیا یي خپره شي، پر هغوی باندې بلا ګانې او عذاب نازلېږي.

تاسې زما اطاعت وکړئ، تر هغه وخته چې زه د الله ﷻ او د رسول الله ﷺ اطاعت کوم، خو که چېرې له ما څخه داسې کار وشو، چې له هغه څخه د الله ﷻ او رسول الله ﷺ نافرماني څرګندېدله، په تاسو باندې نور زما اطاعت واجب نه دی.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د ښتینولۍ، امانت دارۍ په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي. او هغوی دې د ښتینولۍ او امانت دارۍ په ښېګڼو باندې پوه کړي.
- زده کوونکي دې د پورتني متن اصلي مفهوم په څولنډو جملو کې بیان کړي.

# د پښتو ادبیات

د ادبیاتو د اوسنیو تعریفونو له مخې د یوې ژبې ټول لیکلي او نا لیکلي منظوم او منثور هنري آثار ادبیات ګڼل کېږي.اوس هر ډول لیکنې څوک په ادبیاتو کې نه شمېري یوازې هغه آثار د ادبیاتو تر سرلیک لاندې راځي، چې هنري ارزښت ولري. د مثال په ډول، هر منثور اثر چې د علومو او فنونو په بېلا بېلو څانګو کې لیکل شوی وي او یا هر منظوم اثر چې تاریخ، جغرافیه، طب او نور علوم او فنون په کې تشریح شوي وي ادبیات نه بلل کېږي.

بلکې په ادبیاتو کې هغه هنري او ادبي آثار شاملېږي، چې له تخیله را زېږېدلي او د ژوند واقعیتونه په هنري ډول څرګند کړي. پر لوستونکو او اورېدونکو باندې خپل خاص او ښکلی هنري اثر ولري او د هغه هنري ذوق تسکین کړي. دغه ادبي او هنري اثر باید په یوه داسې ژبني چوکاټ کې بیان شوی وي، چې هم د ټولنیز ژوند هېنداره وي او هم په لوستونکو او اورېدونکو کې یو احساس پیدا کړي.

د ادبیاتو ددغه تعبیر له مخې ګورو، چې پښتو ژبه دغسې هنري، ادبي آثار لري او که نه؟ د دې پوښتنې ځواب مثبت دی. کله چې مونږ د پښتو ژبې ادبي زېرمې وپلټو، نو وینو چې له پخوا زمانو څخه تر نن پورې د دې ژبې ویونکو هنري او ادبي آثار منځ ته راوړي دي، چې هم یې نالیکلې او هم یې لیکلې بېلګې موجودې دي. په دې برخه کې د موضوع د پوره څرګندونې له پاره ادبیات لومړی په نا لیکلو او لیکلو برخو وېشو:

# د پښتو ژبې ناليکلي ادبيات

دا به مبالغه نه وي که ووايو چې د سيمې په ژبو کې پښتو ژبه د ناليکلو ادبياتو د سرشارو سرچينو د لرلو له امله په لومړي کتار کې ولاړه ده. دا چې د پښتو د ناليکلو ادبياتو زېرمې نسبت نورو ژبو ته زياتې دي. د دې خبرې اصلي علت دا دی: چې زموږ زيات خلک د خپلو خاصو سياسي، ټولنيزو اقتصادي، فرهنګي او جغرافيايي عواملو له امله له سواده بې برخې پاتې دي. په دغسې ټولنو کې چې سواد عام شوی نه وي، د ليکلو ادبياتو پر ځای د ناليکلو ادبياتو د منځ ته راوړلو لارې ډېرې زياتې موجودې وي.

همدالامل دی چې د پښتو نخوا، افغانستان، بلوچستان، سند، پنجاب او د کشمير په زياترو پښتني سيمو کې اوس هم د ناليکلو ادبياتو بېلا بېلې نمونې منځ ته راغلي، خو د دغو سيمو په ښارونو کې دپښتو د ناليکلو ادبياتو د منځ ته راتلو زمينې محدودې او حتی له منځه تللې دي.

په پښتو کې د ناليکلو ادبياتو بېلا بېل ډولونه او د هغو زياتوالی سړی په دې باوري کوي، چې زموږ خلکو که سواد نه درلود، خو هنري ذوق او احساس ور سره و، چې خپل دغه ذوق او احساس يې د دغو ادبياتو په بېلابېلو ډولونو کې څرګند کړی دی.

زموږ خلکو د پېړيو په اوږدو کې خپل ارمانونه، خوښۍ، غمونه، خپلې مينې او د خپل ټولنيز ژوند کړه وړه په دغو ناليکلو ادبياتو کې بيان کړي دي.

دغه ادبیات په نالیکلي ډول خوله په خوله یا نسل په نسل را لېږدول شوي او د لېږدونې په دې بهیر کې یې کلیوالي موسیقۍ هم ملګرتیا کړې ده.

خو دې لړۍ د خپلو راویانو له وختونو سره دوام کړی دی، او د راویانو له منځه تلو سره نا لیکلي ادبیات هم له منځه تللي دي. او لکه هغه صحرا یي خود رویه ګلان را ټوکېدلي او د بېوال له پالنې پرته له منځه تللي دي.

څرنګه چې په هره ټولنه کې نا لیکلي ادبیات سینه په سینه لېږدول کېږي، نو ځکه یې لرغونې بڼې تر وروستیو پېړیو پورې نه رارسېږي اوس چې د پښتو د نالیکلو ادبیاتو کومې ثبت شوې بېلګې لرو، له ځینو استثنایي موادو پرته په تاریخي لحاظ لرغونې نه دي، خو په ځینو دغو سندرو کې یې مفکوره او د فکر طرز یې لرغونی دی.

د دغو سندرو په ځینو ډولونو کې د هغو ښکلي جوړښتونه هم له ډېرو لرغونو زمانو څخه روایت کوي او له هغو آریایي سندرو سره نژدې والی لري، چې زرګونه کلونه مخکې په دې خاوره کې منځ ته راغلي، او روزل شوي دي. د پښتو د نالیکلو سندرو یوه مهمه ځانګړنه دا ده، چې په خاصه غاړه (لحن) ویل کېږي.

د پښتو ژبې ناليکلي ادبيات ډېر ډولونه لري، چې ځينې يې سيمه ييز دي، يعني په يوې ځانګړې جغرافيايي سيمې کې منځ ته راځي او په نورو پښتني سيمو کې رواج نه لري.
خو ځينې ډولونه يې په ټولو هغو سيمو پورې اړه لري، چې ددغه ډول ادبياتو د منځ ته راتلو مينه وال او روزونکي لري. د ناليکلو ادبياتو د بېلابېلو ډولونو د ثبت او ټولولو کار څه دپاسه له سلو کلونو را په دې خوا پيل شوی دی.

تر ټولو د مخه پښتو ناليکلو ادبياتو ته غربيان متوجه شوي دي. چې د لوېديځو پوهانو د دغو هڅو په لړۍ کې د جيمزدار مستتر (۱۸۴۹-۱۸۹۴) کار تر ټولو ارزښتناک دی، ده د پښتو دناليکلو ادبياتو بېلګې په خپل مشهور اثر (د پښتونخوا د شعر هاروبهار) کې خوندي کړې دي.

زموږ په هېواد کې هم د پښتو د ناليکلو ادبياتو د ډولونو ثبت له شلمې پېړۍ را په دې خوا د پام وړ ګرځېدلی. په افغاني پوهانو کې اروانباد غلام محی الدين افغان چې (۱۳۰۰ هـ ش کې مړ) شوی دا کار تر هر چا دمخه پيل کړی دی،چې په سراج الاخبار افغانيه کې يې د پښتو متلونو بېلګې چاپ کړې دي.

تر ده وروسته په کندهار کې د پښتو د ادبي انجمن په جوړېدوسره او بیا په کابل کې پښتو ټولنې دغو مرغلرو ته ډېره پاملرنه کړې ده،په دې برخه کې اروابناد محمد ګل نوري چې په (۱۳۵۲ هـ ش مړ) شوی د لوی حق خاوند دی. ده د پښتو د نالیکلو ادبیاتو د ځینو ډولونو ډېرې خوند ورې او زیاتې بېلګې راټولې کړې دي.

تر محمد ګل نوري وروسته په افغانستان کې د پښتو ژبې نامتو لیکوال او شاعر حبیب الله رفیع او محمد کریم پتنګ چې کوم کارونه کړي دي. په وروستي بهیر کې د کیفیت او کمیت له نظره بې ساري دي.

د پښتو د نالیکلو ادبیاتو او پښتني فولکلور، تیوریکي او علمي مطالعې په لاره کې د اکادیمسین کاندید محمد صدیق روهي، د اکادمیسین کاندید عطايي او سر محقق دوست شینواري کارونه او کارنامې نه شو هېرولی.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې دمتن لوست په زده کوونکو باندې ولولي، او نوي لغتونه دې ورته معنا کړي.
- زده کوونکي دې د پښتو ادبیاتو تعریف له یاده زده کړي، او د لیکلو ادبیاتو تعریف دې پخپله ژبه نورو ته ووايي.

# د نالیکلو ادبیاتو ډولونه

د پښتو د نالیکلو ادبیاتو په څېړونکو کې ښاغلی حبیب الله رفیع د پښتو منظوم نا لیکلي ادبیات د خپلو ځینو خصوصیاتو له امله په دوو برخو وېشلي دي.

۱- عامې سندرې، یعنې هغه سندرې چې ویونکي یې ښکاره نه دي او په ټول ولس پورې اړه لري.

لکه: لنډۍ، سروکې، نارې، لنډکۍ د ښادۍ بدلې او نور.

۲- خاصې سندرې، په دې سندروکې هغه سندرې راوړل کېږي چې زیاتې یې د بې سوادو ولسي شاعرانو له خوا جوړې شوې وي، یعنې شاعران یې معلوم کسان دي لکه: چاربیتې، بدلې، بکتۍ، لوبې، داستان مقام، کسرونه او نور.

پورتنی وېش تر ډېره حده پر ځای دی او د پښتو ژبې د ولسي ادبیاتو په ډېرو څېړنوکې منل شوی دی. دا خاصې سندرې سره له دې چې زیاتره د بې سوادو ولسي شاعرانو له خوا ویلې شوې دي. د خپرېدو او لېږدولو بهیر یې هم دعامو سندرو په شان دی. دا خاصې سندرې هم زیاتره لیکلی ډول نه لري او سینه په سینه په نالیکلي ډول لېږدول کېږي.

خو، د خاصو سندرو په هکله دیادونې وړ ټکي دا دي، چې دا سندرې په ټولنه کې د ټاکلو کسانو له خوا ویل شوې دي. د ځینو دغو سندرو د اېشارو او قراینو له مخې دویونکو د ژوند مهال او هم د سندرو د ویلو تقریبي زمانه ټاکل کېدی شي. په همدې اساس موږ د دغوکسانو منځ ته راوړنو ته د پښتو د ادبي تاریخ په ادبي دورو او ادبي پړاوونو کې د مطالعې ځای ورکولی شو.

د پښتو ژبې د نالیکلو ادبیاتو ځنې ډولونه دادي:

# لنډۍ

د پښتو ژبې په نا لیکلو ادبیاتو کې ډېرې مشهورې سندرې چې ټول پښتانه يې پېژني او آشنايي ور سره لري لنډۍ دي.

لنډۍ دوه مسریزه منظومه ده، چې لومړۍ مسره يې لنډه (نهه سېلابه) او دوهمه يې اوږده دیارلس سېلابه ده د لنډ یو یوه عمده ځانګړ نه دا ده: چې په دغه لنډ ښکلي چوکاټ کې بشپړ مفاهیم ځایدلای او بیانیدلای شي.

لنډيوته په ځينو پښتني سیمو کې ټیکۍ هم وايي، خو زيات خلک يې لنډۍ او ټپې بولي. زیاتره لنډۍ په هنري لحاظ ډېرې ښکلې او انځورونه په کې په خورا لوړه هنري کچه او ډل شوي دي. په سادګۍ کې دومره ښکلې دي چې زموږ نورې سندرې د دغو خصوصیاتو له امله له لنډيو سره سيالي نشي کولی.

د لنډيو ويونکي معلوم نه دي. لنډۍ د عام ولس مال دی. یو شپون، یو اوښبه، یو بزګر او په زیاته اندازه زموږ کلیوالي ښځې او نجونې د لنډيو په منځ ته راوړلو کې لويه برخه لري. د پښتو په ځينو لرغونو دېوانونو کې ځيني لنډۍ هم راغلې دي لکه د حسین او سید غلام ننګرهاري دیوان.

ځينو معاصرو ليکوالانو لکه بريالی جان صاحب زاده، مرحوم صالح محمد هوتک صاحب زاده، محمد ادريس او نورو هم د لنډيو جوړولو خواته هڅه کړې ده او ځينې لنډۍ يې ويلې يا جوړې کړې هم دي.

دا ټولې لنډۍ په ټولو پښتني سيمو کې د لنډيو د موجوده زېرمې نمايندګي نشي کولی بلکې يوه برخه يې را ټوله شوې او په ولسونو کې نورې ډېرې داسې لنډۍ شته، چې تر اوسه لا د کاغذ پر مخ نه دي ليکل شوې.

په لنډيو کې د پښتنو کليوالي ژوند او د دوی د کلتور د بېلابېلو اړخونو ځانګړنو انعکاس موندلی دی اوپه هر ډول موضوعګانو پورې اړوندې لنډۍ دخپلو دغو ناليکلو سندرو په مجموعو کې ميندلی شو لکه:

وطن مې تن، تن مې وطن دی
د تن په بيه دې وطنه زه ساتمه

که په ژوندون وطن ته ولاړم
زه به يې کاڼې بوټې واړه ښکلومه

د مسافرو ځنکدن دی
مخ يې وطن ته کړئ چې ساه يې وخېژينه

ما د وطن له ترو ځار کړې
کوچيانۍ پيغلې يې ورشو کې ژوند کوينه

په لاندې ډول يوه لنډۍ تقطع (په سيلابونو وېش) کوو:

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| و | طن | مې | تن | تن | مې | و | طن | دی | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ |
| د | تن | په | به | يه | دې | و | ط | نه | زه | سا | ته | مه |

# تاریخي نارې

دا یـو ډول نـارې دي، چـې د پښتنـو ټـولنیز ژونـد اوسیاسـي تـاریخ پورې اړه لري. دا ډول نارې د هوتکو د پاچاهۍ په پېښوکې د نـادر افشار د راتګ او بیا د لوی احمد شاه بابا د دوران په پېښو پـورې اړه پیـدا کـوي. دا تـاریخي نـارې ددغـو د ورانونـو پـه بېـلا بېلـو وختونو کې ویل شوې او پـه خلکو کـې خورې ورې راغلـې دي ډېر امکان لري چې د هوتکو تر پاچاهۍ د مخه دورو کې بـه هم دا نـارې راغلـې وي، خومتاسفانه اوس تـر مـوږ پـورې رارسېدلـې نـه دي. دا نـارې ځینـو مهمـو تـاریخي پېـښو تـه هـم اشـارې کـوي،چـې د افغانستان د هغـو د ورانونـو د تـاریخ پـه لیکنـه کـې د دغـو نـارو لـه محتویاتو استفاده کېدی شي.

ددې نارو جوړښت په عام ډول دوې مسریزه دی، چې یـوه مـسره یـې لنډه او بله یې اوږده ده، خو د دواړو قافیـه یـوه ده، او دا هـم د بېـلا بېلو مهالونو څو تاریخي نارې.

که زمری دی شـاه ولي د جنګ زمری دی

له ســـــنګرو یې ایســــتلی مرهـتمی دی

# نکلونه

د پښتـو د نـالیکلو ادبیـاتو ډېـره خونـد وره برخـه نکلونـه دي. دا نکلونـه لـه پېړیـو، پېړیـو را هېـسې د ولـسونو پـه حافظـه کې پـاتې شوي دي او ځیـنې بڼې یې تـر نـن ورځې رارسېدلـې دي. نکلونـه د پښتنو د جلا، جلا سیمو په کلیـو او بانډوکې موجود دي. کـه یـو نکل په یوه سیمه کې رامنځ ته شوی هم وي. په همغه ټاکلې سـیمې پورې اړه نه لري، بلکې نورو پښتني سیمو ته هم ورلېږدول شوي او عام شوي دي.

د پښتنو یو ډول خپل نکلونه دي، چې د چاپېریال اتلان او ټول کړه وړه یې پښتني دي او د پښتنو د ټولنیز ژوندانه په څېړنه کې لـه دې ډول نکلونـو څخـه ډېـره ګټـه اخیـستل کېـږي د دوی د فرهنـګ او دودونـو د ډېـرو پخوانیـو ځانګړتیـاوو ځیـنې څرکونـه هـم ورڅخـه اخیستلای شو. دپښتني نکلونـو پـه بیـان شـوو حکـایتونو او پېښـو کـې د پـښتنو د همغـو پخوانیـوفرهنګي او ټـولنیزو دودونـو څخـه کاراخلي

سپارښتنه: زده کوونکي دې د نکلونو د متن لنډیز په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د نکلونو نارې

د پښتو دنالیکلو ادبیاتو یوه غوره برخه نکلونه دي، پښتو نکلونه زیاتره د نکل د بیانولو او د کیسو په ترڅ کې ځینې منظومې ټوټې لري، چې دا ټوټې د نکل په جلا جلا برخو او ټاکلو وختونو کې ځای لري او د نکل نارې بلل کېږي.

دا نارې دوې مسریزې او درې مسریزې دي، د نکلونو دوه مسریزې نارې کله کله هم قافیه او کله هم نه وي

سر د سره پالنګه هسک کړه فتح خانه

یاغي سوي هندوستان رعیت ملکونه

❁ ❁❁

په پښتو نکلونو کې د ځینو نارو موجودیت ځینې څېړونکي په دې باوري کړي دي، چې دغه نکلونه به په لومړي سرکې منظوم منځ ته راغلي وي او بیا به یې د وختونو په تېرېدو سره منظومې بڼې هېرې شوې او دنکلونو خاکه به د خلکو په حافظو کې پاتې وي.

او بیا به یې د همدغې خاکې له مخې د ولس له عامې محاورې سره سم اوسنۍ بڼه غوره کړې وي.

د پښتنو په خپلو ملي نکلونو کې د آدم خان او درخانۍ، مومن خان او شیرینۍ، طالب جان او ګل بشرې، موسی خان او ګلمکۍ، فتح خان او رابعې، جمال خان او زیب النسا او نور ډېر مشهور نکلونه بلل شوي دي.

بل ډول یې له نورو ولسونو څخه راغلي نکلونه دي، چې پښتني سیمو ته رسېدلي او په دې سیمو کې د ټولنیزو دو دونو او فرهنګي غوښتنو له مخې ځینې شیان په کې کم او یا زیات شوي لکه د شهزاده بهرام او ګل اندامې، سیف الملوک او بدرۍ جمالې او یا دېوانو او ښاپېریانو نکلونه په دغه شمېر کې راځي.

# متـــلونه

متلونه د پښتو د ناليکلو ادبياتو هغه درنې، پخې او په تول تللې خبرې دي، چې د ارواښاد استاد قيام الدين خبره د ژوندانه فلسفه ټوله په متلونو کې بيان شوې ده. متلونه هغه لنډې وينا وې دي چې دمعنا له پلوه بشپړې اود مفهوم په لحاظ علمي دي.

د متلونو فصاحت او بلاغت په دې کې دی چې متلونه د فورم په لحاظ لنډې او مؤجزې جملې دي، خو د معنا له مخې ژور مفاهيم په کې رانغښتي دي.

ژبه يې ساده، د خلکو له بيان سره سمه او نيغ په نېغه موخې ته رسېږي. د پښتو په ناليکلو ادبياتو کې متلونه په دوو برخو وېشلای شو. يو ډول يې عادي متلونه دي چې دخلکو دعامو خبرو په څېر په لنډو جملو کې ويل شوي دي.

او بله برخه يې هغه متلونه دي چې منظومې بڼې لري او ددوو مسريو په بڼه تنظيم شوي دي لکه دا متل:
بد به دې په زړه لرم سلام به دې په خوله لرم.
هر متل بشپړه جمله ده او د متل تر تعريف لاندې راتلی شي، لکه دا متل: اوړه دې په اوړه، منت دې په څه؟

پښتو متلونه د موضوعګانو له مخې ډېر پراخ چاپېريال لري. د پښتو د فرهنګ او دودونو په څېړلو کې له متلونو څخه ډېره زياته استفاده کېدای شي. په متلونو کې ځينې داسې عناصر او ټکي شته، چې د تاريخي څېړنو په مرسته د پښتنو د ژوندانه ډېرو لرو زمانو ته رسېږي.

ځينې متلونه له ځينو حکايتونو او ځينو تاريخي پېښو څخه هم زېږېدلي دي موږ دا راز متلونه د پښتو د متلونو په زېرمې کې ډېر پيدا کولای شو.

په افغانستان، بلوچستان او پښتونخوا کې ډېر پوهان د متلونو ارزښت ته متوجه دي. زيار يې ايستلی دی، چې زموږ د ناليکلو ادبياتو دغه زېرمه له ولسونو را ټوله کړي.

په افغانستان کې مرحوم غلام محی الدين افغان، مرحوم محمد ګل نوري، اروابښاد محمد دين ژواک ډېرمتلونه را ټول کړي دي.

په دغو پښتنو سر بېره لويديځو پښتو پوهانو او نورو اروپايي پښتو څېړونکو هم د پښتو متلونو ټولولو ته هڅه کړېده، چې په هغو کې د ناربورن، دارمستټر، بوايل نومونه دياد ولو وړ دي.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د متلونود لوست لنډيز په څو کرښو کې په خپلو کتابچو کې وليکي.
- زده کوونکي دې څومتلونه چې يې زده دي په خپلو کتابچو کې وليکي.

# پښتو لنډې ناليکلې کيسې

د پښتو په ناليکلو ادبياتو کې ځينې لنډ حکايتونه هم شته چې ځينې نکلونه يې زموږ په ټولنه کې منځ ته راغلي او ځينې يې له نورو ولسونو څخه راغلي او پښتو شوي دي. نکلونه ټول ناليکلې بڼه لري.

د نکلونو په لړۍ کې ځينې يې په حيواناتو پورې اړه لري دا ډول حکايتونه زياتره د زاړه ختيځ ادب له کتابونو څخه پښتو ته راغلي دي. او ځينې يې د ټوکو او طنزونو په ډول جوړ شوي دي.

دا لنډې کيسې او نکلونه زياتره په ټولنيزو او اخلاقي موضوعاتو سره پيل کېږي، چې په ولس کې د اخلاقي نورمونو له پياوړتيا سره مرسته کوي او د دې ټولنې د خلکو د ټولنيزو ځانګړنو په پېژندنه کې يې هم له څېړونکو سره د مرستې له ارزښته ستر ګې پټېدلی نشي.

# کېسۍ

د ماشومانو په ادبیاتو کې ډېره خوند وره برخه کیسۍ دي چې د کلیوالوماشومانو په ذهني وده کې ستره برخه لري.

کیسیو ته ځینې پښتانه اړونه او ځینې ټکونه وایي په پارسي کې ورته چستان ویل کېږي هغه کیسۍ چې د پښتو په نالیکلو ادبیاتو کې شته زیاتره د ماشومانو تر منځ د ذهني ازمویني په ډول استعمالېږي. بېلګه یې دا ده:

سور دی، سندوخک دی

د ســــرو غمیو ډک دی

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې څو کیسۍ چې د دوی زده دي په خپلو کتابچو کې ولیکي.
- دې ته د ې وهڅول شي چې که کومه کیسۍ یې یاده وي په ټولګي کې یې ووایي.

# د پښتو د نالیکلو ادبیاتو ارزښتونه

۱) د پښتـو ژبې نـالیکلي ادبیـات سره لـه دې چې د خپلـو شـکلي جوړښتونو له پلوه رنګا رنګ دي دغـه ډول د پښتنـو د ټولنیز، ملـي، سیاسـي او فرهنګـي ژونـد ټولـو خـواوو ددې ادبیـاتو پـه بیلا بېلو ډولونو کې انعکـاس مونـدلی دی او ددغـو ادبیـاتو لـه څېړنو څخـه د پښتنـو د فـرهنګ او دودونـو پـه څېړنـه کـې ډېـره زیاته استفاده کولای شو.

۲) هغه څه چې د پښتنو د ژوند د جلا، جلا اړخونو پـه بـاب پـه دې ادبیاتو کې بیـان شوي دي. ډېر طبیعي رنـګ لـري او لـه هـر ډول لاس وهنو او تصنعي خبرو څخه پاک دي.

۳) د پښتو نالیکلي ادبیات د خپلو ټولنیزو ارزښتونو تر څنګ پـه هنـري لحاظ هم د بحث وړ دي. ددغو ادبیاتو په ځینو ډولونو کـې ښکـلا او تصویرونه په ډېر لوړ هنري انداز سره غاړه غړې دي.

۴) پښتو نالیکلي ادبیات د پښتنو د عام ولس او د کلیوالو خلکو د هنري ذوق او فکري ودې د څرګندولو په بهیر کې خپل نقش لري. ددې ادبیاتو مطالعه دا را ښيي که زموږ عام ولس له ښاري او متمدن ژوند څخه لېرې په غرو، درو، بېدیاوو، دښتواو کېږدېو کې هم ژوند کوي. د هنري ذوق تر څنګه یې د ټولنیز او د چاپېریال دمسایلو په باب ځانګړی فکر هم درلوده، ددوی دغه ډول فکري او هنري ځانګړنې د دغو ادبیاتو په بېلا بېلو ډولونو کې لیدلی شو.

لنډه دا چې پښتو ژبه دلیکلو ادبیاتو ترڅنګه د نا لیکلو ادبیاتو داسې غوره زېرمې هم لري چې موږ یې د پښتو د ادبي تاریخ په مطالعاتو کې له پامه نشو غورځولی.

---

سپارښته:

- ښوونکی دې دپښتو دنالیکلو ادبیاتو د ارزښت په اړه معلومات وړاندې کړي.

# پښتو لیکلي ادبیات

د پښتو آثارو کوم اسناد چې تر موږ پورې رارسېدلي دي د دوهمې هجري پېړۍ پورې اړه لري. له دغه وخت څخه تراوسه پورې په زرګونو شاعران، ناظمان او لیکوالان په دې ژبه کې تېر شوي دي. چې په پښتو ژبه یې کتابونه لیکلي. د اشعارو دېوانونه یې ترتیب کړي، له نورو ژبو څخه یې اشعار او آثار په پښتو ترجمه کړي دي، چې دغه ټول آثار اوس زموږ ښکلې لیکلې فرهنګي زېرمې دي.

فرهنګي زېرمې ځکه ورته ویلی شو، چې د پښتو ژبې ټوله لیکلې ذخیره ده، چې څه د پاسه د دولس نیم سوو کلونو په اوږدو کې منځ ته راغلې ده.

د پښتو ژبې د لیکلو آثارو کومه زېرمه چې اوس په لاس کې ده ، په هغوکې منظوم او منثور آثار شامل دي، چې په منثورو
آثارو کې له مسجع او قافیه والو نثرونو څخه نیولې دنن ورځې تر روانو، ساده د هنر اوښکلا په ګاڼه سمبالو نثرونو پورې ټول په کې شامل دي.

په منظومو آثارو کې له بېلابېلو برخوڅخه يوه غوره برخه د پښتو لرغونې سندرې دي.

د پښتو لرغونې سندرې، د خپلو ښکلو جوړښتونو له مخې د زاړه آريايي دوران او اوسنيو ولسي ادبياتو تر منځ د پيوستون کړۍ ده.

همدارنګه د ختيځې شاعرۍ شعري ډولونه د پښتو په ليکلې زېرمې کې يوه لويه برخه ده ، چې دختيځ د نورو ژبو، لکه پارسي، عربي، اردو، ترکي په شاعرۍ کې هم موندل کېږي. پښتو ژبې کې هم دغه ډول شعرونه شته چې د مشترکو نظمونو په نامه يادېږي په دغو مشترکو شعري ډولونو کې قصيده، غزل، رباعي، قطعه، مثنوي، مربع، مخمس، مسدس، مسمع، معشر، ترجيع بند ، ترکيب بند او نور شعري ډولونه يادولی شو.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې دمتن په مفهوم زده کوونکو ته معلومات وړاندی کړي.
- زده کووونکي دې دلوست مفهوم لنډيز په خپلو کتابچو کې وليکي.
- له زده کوونکو دې پوښتنه وشي چې پورتني شعري ډولونه ولې مشترک بلل کېږي.

# د پند مرهم

څوبه خــورې پردي مــالونه په ستم
يوه ورځ به دې په نس کې شي اړم
چېرې نه شې د هــاتي تر قــدم لاندې
په عاجز مچ او مېږي مه ږده قدم
چې په خپل صورت اغزی منلی نه شې
بــل ته ولې رســـوې د تـېغ الــم
آدم زاد دي د يــو ې ونې ښــاخــونــه
چېرته ته ښاخ د زعفران شوې نورشړشم
بدلـــه به د هېڅــا در پــاتــې نه شـــي
کــه دې زور وي پــه چــا کړی که کــرم
چــې سبــا دې ژړوي په او ښــکو ويــنو
نـــن بـايده ده غـم خـورګـي دهـغه غـم
د غفـلت زخـم به ژر دستـانـاسور شـــي
چې پرې نه ږدې د نېکخواه د پند مرهم
چې همسا يې د مــوسى بولـي وګـړي
ښايي نـــن ساعت (حميده) ستا قـــلم

(حميد بابا)

---

## سپارښتنه:

- ښوونکی دې پورتنی شعر زده کوونکو ته معنا کړي.
- زده کوونکي دې يو يو بيت په نثر واړوي.

# نوی ډاکتر

یوه نوي ډاکتر نوی کنتځی پرانیستی و. نو زیار یې یوست چې ناروغان ځانته جلب کړي. یوه ورځ یې له لرې پر سړک یو سړی ولید ، چې دده د کتنځي خواته را روان دی. ډاکتر په زړه کې خوشحاله شو خو کله چې هغه سړی د معاینه خانې دروازې ته راورسېد ، ډاکتر د تیلفون غوږۍ پورته کړه او ددې له پاره چې سړي ته ځان ډېر مصروف وښیي داسې یې په خبرو پیل وکړ:

"هو! بله نسخه مې هم لیکلې ده... بلې- ډېر ښه شو انشاء الله هغه بل ناروغ چې له هغه مرضه زما په دوا جوړ شو، نو دا به هم ضرور ښه شي... څه فرق کوي؟ دا زما دنده ده، زما دلاس برکت؟ یه یه- دا دعلم برکت دی البته تشخیص درست و.

بلې! نن نه شم درتلی. ډېر ناروغان زما په انتظار کې دي. اوس باید د رئیس صاحب کره ولاړ شم، هغه هم تاسې غوندې سخت ناروغ لري. البته ستاسې نسخه تیاره ده د ټوخي دوا هم درلېږم... سبا؟ هو، یقیناً درځم خو نن ابله دشپې تر دولسو بجو پورې د خپلو ناروغانو له لیدو څخه وزګار شم، سبا سهار وختي یو دوه

نور عاجل ناروغان لرم. چې هغه مې وکتل نو بیا به ستاسې کره درشم.

هو- هو- دستي سړی راواستوه، چې هغه نسخه در وړي. څو دقیقې وروسته نو زه د خپلو ناروغانو د لیدو له پاره ځم..."

ډاکټر د تیلفون غوږی کېښودله . راغلي سړي ته یې مخ واړاوه او ورته یې وویل:

"وروره! تاسې هم کوم ناروغ لرئ؟"

سړي ورته وویل:

"یه ډاکټر صاحب! زه ناروغ نه لرم ـ زه تیلفوني یم، ددې له پاره راغلی یم چې ستاسې ددغه تیلفون مزی وتړم!

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې په لوستل شوي متن کې د ضمیر کلمې په ګوته کړي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.
- زده کوونکي دې دلیک نښو علامې په متن کې وړپه ګوته کړي او بیادې د هرې لیک نښی نوم ووایي.
- په وار سره دې زده کوونکي د درس په مطلب خبرې وکړي.

# کاراو عمل

وروسته له فکر کولو کار او عمل دی. بې عمله فکراو بې فکره عمل یوهم سمه نتیجه نه لري .

فکر د همدې له پاره دی، چې سړي ته کار او د کار سمه لار و ښیي. د انسان وړتیا د کار او عمل له مخې معلومېږي. تقوی، عدالت، ظلم او فسق دانسان په اعمالو کې ځان ښیي.

له ښه فکره ښه اراده او له ښې ارادې څخه ښه عمل پیدا کېږي ځکه کار او عمل ته د فکر نتیجه او غایه وایو او اصلي مقصدیې بولو. فکر پخوا له عمله د یوه مړي مثال لري او مفکوره په عمل ژوندۍ کېږي . د فکر صحت او غلطي پس له کار او عمله معلومېږي . هغه فکرچې عملي کېدی نه شي څه قیمت نه لري .

څوک چې فکر کوي او کار نه شي کولی هغه لکه ګوډاو شل داسې دی چې هېڅ ځای ته نه رسېږي او په هر وخت کې بل ته محتاج وي . هغه چې کار کولی شي او فکر نشي کولی دړندو مثال لري، چې لاره نهویني او په لاره ځي. کارد انسان هغه اقتدار ښرګندوي ، چې

لوی څښتن ﷻ په خپل قدرت ورکړی او انسان ته د خلافت حق ورکوي.

د منطق پوهانو انسان په نطق (عقل) او فکر له نورو حیواناتو بیل کړی دی.

د ځمکې په ټولو ژوو (حیواناتو) کې انسان یو فعال او کاریګر مخلوق دی، چې د ده په کارونو او فعالیتونو دا دنیا معموره او ودانه ده. دغه لوی لوی ښارونه او لوړې ماڼۍ، دغه د کار فابریکې او ماشینونه، سمسور باغونه او شنه فصلونه، لوی جهازونه، اورګاډي او الوتکې دانسان دفعالیت او کار شواهد دي چې انکار ترې نه شي کېدلی.

پاک خدای ﷻ په کار او فعالیت کې دخلقت او ایجاد قوت ایښی دی او داسې څه ترېنه پیدا کېږي، چې دمخه یې تصورهم نشي کېدلی.

دا ممکنه ده چې دریا بونه وچ شي، د غرونو قیمتي کاڼي تمام شي، د پادشاهانو خزانې تشې شي مګرهغه څه چې د کار او عمل په کڅوړه کې دي نه تمامېږي او وخت په وخت نوي شیان ترې پیدا کېږي. صالح عملونه او ښه کارونه د خدای ﷻ په دربارکې ډېر

قدرلري او په مثقالونو خرڅېږي او پاک خدای ﷻ په کار او عمل کې دومره برکت ایښی دی چې له یوه زړي څخه سمسور باغونه جوړېږي. غرونه سوري او په دریابونو کې لارې جوړې شي . هوا او فضاتر پښولاندې او د ځمکې له سینې څخه د پټو شیانو په را وتلو سره د طبیعت پټ رازونه ښکاره کېږي.

په کومو هېوادونو کې چې د کار او عمل خاوندان موجود دي، هلته دانسانانو جونګړې او کنډرې په عالي قصرونو او لوړو ماڼیو بدلې شوي، هلته د سیندونو مخه نیول شوې او دانسانانو په خوښه یې مجرا پیدا کړېده په هغوځایونو کې غرونه او رغونه ځیرې شوي او پېچومي اوار شوي دي . هلته په سړکونو باندې د ښارویو په ځای او ګاډي او موټرونه چلېږي او په ژوندکې یې سل رازه راحتونه او هو ساینې لیدل کېږي.

بېکاره او بې فعالیته انسانان اوس هم په سمڅو او غارونو کې ژوندکوي او دحیواناتو ښرمنې اغوندي د هغوی خوراک اوس هم د غرو بوټي دي اوله وحشیانو څخه د ژوند په لحاظ ډېر فرق نه لري.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې دکار دګټو او ارزښت په اړه څو کرښې ولیکي.
- څو زده کوونکي دې په وار سره په ټولګي کې د عمل او نظر په باره کې خبرې وکړي.

# صفت

صفت (ستاینوم) هغې کلمې ته وايي، چې د یوه نوم حالت، کیفیت او څرنګوالی بیان کړي. صفتونه پر څو ډوله دي:

**۱-** اصلي صفت: د یوه نوم ذاتي ښه والی او بدوالی ښکاره کوي .

**اصلي صفات دادي:**

ښه، بد ، تور، سپین، خړ، سور، غټ، لوی، نری، پوخ، خپل، پردی، لوڅ، مړ، ژوندی، روغ، جوړ، تړی، موړ، سوړ، زوړ، ټیټ، لوړ، جګ، اوچت، پلن، لنډ ، ارت او نور..

**۲-** نسبتي صفت: چې یو بل نوم ته یې نسبت شوی وي لکه: کندهاری، یوسف زی، سلېمان خېل او داسې نور.

**۳-** اشاري صفت: هغه کلمې چې د هغو په مرسته یوه نوم ته اشاره وشي اشاري صفت بلل کېږي، لکه: دغه کورتۍ دې په څو روپۍ ګنډلې ده؟
دغه باغ د انګورو دی.
هغه سړی د غنمو لو کوي.
داونه ښه سیوری لري.
هغه هلکان د زمرک وريرونه دي.

۴- **عددي صفت:** هغه کلمه ده چې د هغو په مرسته د یوه شي د شمېر اندازه معلومېږي لکه: دوه لاسونه، یوهلک، دوې سترګې، پنځه ورځې او نور.

که چېرې یو عدد یوازې شمېر او اندازه وښیي مطلق عدد یې بولي او که چېرې په رتبه او درجه دلالت وکړي نو رتبي عدد ورته وايي لکه:

احمد په خپل ټولګي کې دوهم نمبر دی، نن د میاشتې څلورمه ورځ ده،درېمه درجه ،څلورم پوړ.

مطلق عددونه بې له یوه او دوو څخه د مذکر او مونث له پاره یو شان راځي او رتبي عددونه د خپل موصوف تابع دي لکه لسم کال، لسمه ورځ.

۵- **استفهامي صفتونه:** چې د پوښتنې په وخت کې استعمالېږي او موصوف ورسره راغلی وي لکه: څومره غنم دې په کار دي؟ کوم هلک پوه دی؟ څو کتابونه اخلې؟

۶- **فعلي صفتونه:** هغه دي چې د فعل او کولو معنا هم په کې وي او د نورو صفاتو په شان د نوم حال او شان هم بیانوي.

فعلي صفات پر دوه ډوله دي یو ډول یې فاعلي صفات دي لکه: پالونکی، تلونکی، تللی، راغلی، پاڅېدلی، ګرځېدلی. اوبل ډول یې مفعولي صفات دي لکه: ساتلی،ساتل شوی، لیکل شوی، لیکلی، پرې کېدونکی، وهل کېدونکی او نور.

---

سپارښتنه: زده کوونکي دې دصفتونو د ډولونو تعریفونه له یاده زده کړي.

# مجرد صفتونه

مجرد صفت هغه ته وايي، چې صفت يې مادي وجود نه لري او تش صفتي حالت ترې مراد ېږي لکه: لېونتوب، نارينتوب،هوښيار تيا ، روغتيا ، اوږدوالی، او نور.

د پښتوژبې په ګرامر کې د مجرد ، وصف د جوړولو مشهورې بېلګې دادي:

" توب، تيا ، والی" دغه علامې د نوم او صفت په پای کې راځي او مجرد صفتونه ترې جوړېږي، لکه: سړی ـ سړيتوب، لېونی- لېونتوب، مېن- مينتوب، روغ- روغتيا ، ټينګ- ټينګتيا ، لوړ- لوړتيا ، لوی- لوی والی، تور- توروالی.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د مجردو صفتونو په هکله زده کوونکو ته څرګندونې وکړي.
- زده کوونکي دې د (نارينتوب، هوښيارتيا ، روغتيا ، اوږدوالی کلمې په جملو کې وکاروي.

# سوداګر

هرڅه چې خرڅوې هغه خرڅ کړه، مګرخپل دین او ایمان مه خرڅوه!

هرڅه چې خورې هغه وخوره! مګر د خلکو حق مه خوره او پنځه ګوتې په خوله مه منډه، هرڅه چې اخلې هغه واخله مګر دخوار او غریب آزار مه اخله!

له هر ځایه چې څه راوړې رایې وړه! مګرګوره! چې بې انصافي او بې رحمي درسره رانه وړې.

په آسونو او موټروکې سوربېږه! خود چا په او ږو مه سپرېږه ! له ښاره ووځه، خوله نرخه مه وځه!

لوی لوی کورونه د ځان له پاره جوړکړه، خود خپل بام واورې دبل په بام مه غورځوه!

د ځان غم دې وخوړ اوس د نورو غم هم وخوره!

لوړې بنګلې دې پیدا کړې لوړ همت هم پیدا کړه!

خلک وایي په ډېرو لېوني خوښ دي ته هم په لږه ګټه قانع شه او لېونی کېږه مه!

بډایانو وپېژندلې مګرخوار او غریب دې نه پېژني .راشه! دوی ته هم ځان وښیه او د دوی په غم کې شرکت وکړه! په دې ګډون کې که هر څومره برخې ولرې، هغه هېڅکله نه ضایع کېږي او ګټه یې یو په لس یا بې حسابه وي، مګر داسود ناروا نه دی، روا دی، بې انصافي نه ده انصاف دی.

له بلې دبوې څخه

(اروا ښاد الفت صاحب)

---

لغتونه : معناګانې:

بنګلې قصرونه

ګډون برخه اخیستل

بډایان شتمن

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د درس اصلي مطلب په څو ساده کرښو کې ولیکي !

# دوه لېوني

دوه لېونيان د دارالمجانين له نايي څخه چې د دوی سر به يې خرايه، په عذاب شول او په خپل منځ کې يې مصلحت وکړ، چې څنګه دد غه نايي له غضبه خلاص شي؟

تر لږ چُرت وروسته يوه وويل: ماته ښه چل راغی او هغه دا چې، ته يو غټ مېخ را واخله او زما په سر کې يې ټک وهه نو هغه وخت چې نايي زما سر خريي نو چاړه به يې پر مېخ ولګېږي، پڅه به شي او موږ به يې له غضبه خلاص شو.

هغه بل ليوني هم ورسره ومنله، خو هغه وخت چې يې مېخ او چکش راوړ، او غوښته يې چې د هغه بل ليوني په سرکې يې ټك وهي هغه ليوني د هغه بل ليوني لاس ونيو.

لومړي ليوني ورته وويل: څه کوې؟

دوهم ليوني ورته وويل: ويرېږم چې مېخ به در څخه خطا شي او څټک به زما پر سر ونښلي!!

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې په لوست کې دضمير کلمې په نښه او په خپلو کتابچو کې دې وليکي.

# نفــاق

چې تر څو د زړه له کومې وحـدت نه وي
په دې پوه شئ چې هېڅ وخت به راحت نه وي
د نفاق دوره کې هــر څــه تبـــاه کېږي
استقلال لـه منځـه ځـي حـريت نـه وي
د هــر چــا آبـرو تــويېږي، شي بې پتـه
شان شوکت ورځنې سلب شي، عزت نــه وي
شرافت، آبرو دې وخت کــې بربــاد يــږي
داسې وخت کې دښمني وي اِخوت نـه وي
په خوله يو څه، په زړه بل څه، څرګنـد يږي
بد يې بولم چې د زړه صــداقت نــه وي
شــيرين ورونه دښــمنان شي يو تــر بله
يو لــه بلـه شـــي جــدا محبت نــه وي
نفاق اور دی سره لمبه ده هر څه سـوځي
جـــامعــه راتيـــتوي او رفعــت نــه وي

د نفاق او د شقاق لمن کړئ ټوله
په کې تل وي بدبختي سعادت نه وي
د اسلام قانون پر خپل ځان عملي کړئ
په اسلام کې ورورولي وي، نفرت نه وي
چې په خوله لاپې وهي عمل پرې نه کړي
څه چې وايي ټول دروغ حقيقت نه وي
وخت په وخت له ناکامۍ سره مخ کېږي
نتيجه يې تل منفي وي مثبت نه وي
لرې ګرځه داسې خلکو نه "مياخيله"
د وطن سره يې مينه الفت نه وي

(ميا خيل)

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! د نفاق دبدوپايلو په هکله يوه لنډه مقاله وليکئ.

# پاچا او غوړه مالان

"د انګلستان یو پخوانی پاچا د سمندر په غاړه ګرځېده. د خپلو درباریانو سره یې خبرې کولې او د دوی ترمنځ داسې مذاکره وه:"

یوه در باري وویل: اعلیحضرتا! انګلستان هېڅ وخت ستاسې په شان پاچا نه درلود.

بل در باري وویل: تاسې زموږ له زړونو ډېر ښه خبر یاست دلته په ټول انګلستان کې هېڅ سړی نشته چې خپل ژوند او ځان تر تاسې ځار نه کړي.

بل درباري وویل: هو! ته یوازې پاچا نه، بلکې زموږ یو لوی لیډر هم یې، هم دآرامۍ په وخت او هم د نا آرامۍ په وخت کې د ټولو خلکو لیډر، داسې مشر چې هېڅکله یې تردې د مخه نه درلود.

بل درباري! صاحبه! ټوله دنیا تاسې غواړي او دنیا دې ته چمتو ده، چې په تاسې پسې لاړه شي، دا ځکه چې تاسې ډېر زړور او قوي یاست!

بل در باري وویل: هو! په ټول تاریخ کې هېڅکله تاسې غوندې لوی پاچا نه دی پیدا شوی... دا لمر ستاسې له برکته ځلېږي او باد ستاسې په امر الوزي. که تاسې امر وکړئ ددې سمندر اوبه به هم ودرېږي...

پاچا وویل: خلکو! تاسې دا خبرې ددې له پاره کوئ چې زه ستاسې څخه خوښ شم او تاسې ته لوړه رتبه درکړم او یا ځمکه در وبښم.

لومړی درباري: یه یه! اعلیحضرتا! موږ دا خبرې ددې له پاره کوو، چې دا یو څرګند حقیقت دی.

پاچا: آیا حقیقتاً دا رښتیا ده، چې زه د ټولې دنیا لوی او ځواکمن پاچا یم؟

دوهم درباري! بالکل حقیقت او بېخي رښتیا ده!

پاچا: آیا دا هم رښتیا ده، چې د نړۍ د هر ځای خلک ماته د یو ستر لارښود په نظر ګوري؟

دریم درباري: په دې کې هېڅ شک نشته، بالکل رښتیا ده!

پاچا: ډېر ښه! آیا په رښتیا سره ددې سمندر اوبه زما خبره مني؟

او که زه امر وکړم دا اوبه درېږي؟

بل درباري: بې شکه به یې مني، نه یوازې اوبه بلکې ټول کاینات ستاسې امر مني. تاسې امر وکړئ ای لوی پاچا!

پاچا: ښه که زه اوس دې اوبو ته امر وکړم، چې بېرته دې ترشا لاړې شي لاړې به شي؟

لومړی درباري وویل: هو! ضرور،ضرور.

پاچا: زه باید ستاسې درواغ او رښتیا ځان ته معلوم کړم...

"په آمرانه لهجه یې په زوره غږ کړ:

آ، سمندره! زه تاته امر کوم، چې پر شا لاړ شه! زه پاچا یم او زما درباریان ماته وایي، چې لمر، بادونه او دریابونه زما په فرمان دي، نو ستا څپې باید زما تر پښو را ونه رسېږي!!!"

"د سمندر لویه څپه د دوی خوا ته راغله پاچا غږ کړ!"

"آ، اوبو! ودرېږئ، تاسې زما امرنه اورئ؟"

"څپه راپورته شوه، د پاچا پښو ته راورسېدله درباريان له بېرې ترشا لاړل، پاچا وويل:

وګورئ! اوبه راغلې. آيا زه نو رښتيا په دې سمندر حاکم يم؟

"خپل تاج يې له سره لرې کړ، سمندر ته يې وغورځاوه او درباريانو ته يې وويل: "زه به نور هېڅکله دا تاج په سر کښېنږدم. همدا زما له پاره يو درس و او ستاسې لهپاره عبرت. زه يو انسان يم او انسان نه شي کولی چې پر باد، لمر او اوبو باندې حکم وکړي دا ځيزونه يوازې يو پاچا لري چې هغه:

خدای ﷻ دی

هو! خدای ﷻ په هر څه حاکم دی شپه، ورځ، لمر او ټول کاينات دده په امر دي او هم ده ته ښايي چې ووايو:

"لوی پاچا!"

## وايي چې:

خسرو، شيرين ته وويل: پادشاهي ډېره ښه ده، خو چې تل وای! شيرين ځواب ورکړ. که تل وای نو تر تا پورې به نه وای را رسېدلی.

# مصـدر

مصدر هغه کلمه ده، چې بې له زماني څخه يو فعل او کـار ښيـي او زمانه ترې نه معلومېږي. پـه پښتـو کـې مـصدر د لفظ پـه لحاظ پـه پنځه ډوله دی:

**۱–** هغه مصدرونه چې په اخرکې يې (ل) راغلی وي: لکه وهل تلل.

**۲–** هغـه مـصدرونه چـې پـه اخـر کـې يـې (ول) راغلـی وي: لکـه غورځول، ماتول، خندول، الوزول، تودول.

**۳–** هغـه مـصدرونه چـې پـه اخـر کـې يـې (يـدل) راغلـی وي: لکـه ګرځېدل، مړېدل، پاڅېدل.

**۴–** هغه مصدرونه چې په اخر کې يې (کېدل) راغلی وي: لکـه پـرې کېدل، وهل کېدل.

**۵–** هغـه مـصدرونه چـې پـه اخـر کـې يـې (کـول) راغلـی وي: لکـه پخلاکول، ژړا کول، خندا کول او داسې نور.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د مصدرتعريف له ياده زده کړي.
- زده کوونکي دې په خپلوکتابچو کې د لاندې پوښتنې ځواب وليکي.
- مصدر د لفظ په لحاظ په څو ډوله دی؟

# د مصدر معنوي ډولونه

۱- لازمي مصدر: هغه دی چې فعل يې يوازې په فاعل تماميږي او مفعول ته اړتيا نه لري لکه: تلل، ګرځېدل او داسې نور.

۲- متعدي معلوم: چې فعل يې يوازې په فاعل نه تماميږي بلکې مفعول هم غواړي لکه: تړل، ساتل، پخول، آشنا کول.

۳ – متعدي مجهول: چې فاعل يې معلوم نه وي لکه پرې کېدل، وهل کېدل.

۴ – متعدي حکمي: چې د معنا په لحاظ لازمي وي مګر په استعمال کې د متعدي مصدرونو حکم لري او د (ما،تا، هغه،ده) ضميرونه ورسره استعماليږي لکه: ده وخندل، هغه وژړل، دغه ډول مصدرونه دادي:

خندل، ژړل، دانګل، زانګل، لامبل، ټوخل.

د پښتو مصدرونه د اشتقاق له مخې په درې ډوله دي:

۱ – تغيير نه منونکی: هغه مصدرونه چې د حاليه افعالو په ډلهکې خپله اصلي ريښه وساتي او کوم اساسي بدلون په کې نه راځي تغيرنه منونکي مصدرونه دي لکه: "منل، ساتل" چې د حال او

مستقبل صیغې یې بې له کوم تغیره جوړېږي او مثالونه یې په (حال، مستقبل، امر، ماضي استمراري، فعلي صفت) کې وګورئ.

منم، و به منم، و منه، مانه، منلې، ساتم، و به ساتم، وساته، ساته، ساتلي.

**۲- قانوني تغیر منونکي:** هغه مصدرونه دي چې د حالیه افعالو په اصلي ماده کې یې د یوې قاعدې سره سم تغیر راځي لکه: وتل، تلل چې د حال په فعل کې یې "ت" په "ځ" بدلېږي مثالونه یې دا دي: وځم، وبه وځم، ځم، ځم به، ځه.

**۱- بې قانونه تغیر منونکی:** هغه مصدرونه دي چې په حالیه افعالو کې یې اصلي ماده بې له کوم قانون او قاعدې بدلېږي دغه ډول مصدرونه په پښتو کې لږ او په دې ډول دي:

"کتل، لیدل، وژل، میندل، نښتل، ختل" چې د حال فعلونه یې داسې راځي ګورم، وینم، وژنم، مومم، نښلم، خیژم.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د مصدرونو مثالونه ولیکي او بیا دې له یوبل سره پرتله کړي.
- څو تنه زده کوونکي دې دحاصل مصدر په ډولونو خبرې وکړي.

# نصیحت

غم د هغو نشته چې هېڅ نه لري په کور کې
غم کاندي هغه چې د دنيا په وداني دي
کرد بدو مه کړه بد کاران د بدو کر کا
هر چې نېکو کار دي د نیکۍ په دهقاني دي
لږ عبادت وکړي نور هر ګور په ځان غره شي
هر چې ډېر طاعت کا هغه لا په حیراني دي
راغلم په دا عمر چې مې سپين د سر ويښته شول
لا مې د زړه توري هم هغسې شيطاني دي
ډېر همزولي لاړل توري خاورې شول په ګور کې
لاړل کاروانونه يو ځو پاتې کارواني دي
ډېر شاهان، خانان چې يې د عوې د ټول جهان کړې
راشه که يې ګورې اوس په ګور کې زنداني دي
دا فکرونه مه کړه چې زه ځوان يم مرګ مې نشته
ډېر تنکي ځلمي وګورته تللي په ځواني دي
چا ته ویل وکړم ترجمان نشته په منځ کې
زه سمر قندي يم ياران واړه ملتاني دي

امر کړه "خوشحاله" پستنه اوسه له نهي
هر چې نهې کاندي هغه زر په پښېماني دي
(خوشحال خان ختټک)

# حمید مومند

حمید بابا د پښتو ژبې ډېر نازکخیال او باریک بین شاعر تېر شوی دی، چې تردہ وروسته شاعرانو ورته دده د نازک خیالیو، نادرو تشبیهاتو او استعارو له مخې د "موشګاف" لقب ورکړی دی. پیر محمد کاکړ چې د احمد شاه بابا په وختونو کې اوسېده، تر خوشحال بابا، رحمن بابا، عبدالقادر او اشرف خان هجري وروسته د حمید داسې یادونه کوي!

پس له دوی نه موشګاف عبد الحمید دی
چې یې ووې ښــــه نازک نکته دان شعر

شمس الدین کاکړ ویلي دي:

پس له دوی نه موشګاف عبد الحمید دی
باریکي یې د کـــلام ده ځـــــان دشعر

عبد الله محزون ویلي دي:

د حمید موشګاف و خیال ته هوش کړه
ګوندې شـــې دده په جـــذب تېـــر نظر

مېرزا حنان ویلي دي:

که هرڅـــو شعر بلند وایې حنانه!
د حمید موشګاف نه شي ځواب

حمید بابا په قوم مومند او د پېښور د "ماشو خېلو" په کلي کې زېږېدلی دی، خو د زېږېدو نېټه یې معلومه نه ده. مګر مړینه یې پروفیسور بومهارت (Boumhardt) په **۱۱۴۵** هـ کال کې بللې ده.

د حمید بابا په شعر کې سربېره په نورو ادبي مزایاوو، دوې مهمې ځانګړتیاوې لیدل کېږي، چې یوه ځانګړنه یې شعري تلازمات، ښکلي تشبیهات او خوندورې استعارې دي، چې په دې لاره کې ځانته سبک لري او دده شعر له نورو څخه جلا کوي. بله ځانګړنه یې دا ده، چې د پښتو ژبې ډېر زاړه لغتونه یې په خپلو اشعارو کې استعمال کړي دي. دحمید بابا ښکلې نازک خیالي د ده په ټولنیزو شعرونو کې وګورئ چې ویلي یې دي:

چې د اوسپنې ځنځیر شلوي په ګوتو
هغه د ډو په اومه تار د احسان نښلي

دا مضمون چې(( بې زحمته راحت نشته)) په څه ښه الفاظو کې بیانوي:

څو شبنم غوندې شبګیر په سر وانخلې
له ګلرخ سره به نه شې هم آغوش

د نازولي او جاهل زوی په باب کې څه ښه وایي:

نازولی زوی نه اخلي ادب
او دسیوري نخل نه نیسي رطب
ونیو مشه هغه زوی دې په خوا پورې
چې یې نه نیولی درس وي نه مکتب
په غوجل کې باري خر او کچر ښه دی
نه په خونه کې جاهل او بې طلب

د ننګ او د ناموس په باب کې یې ویلي دي:

چې د بل ننګ و ناموس ساتلی نه شي
و به نه ساتي څوک خپل ننګ و ناموس

د حمید بابا آثار دا دي:

۱ - د حمید بابا د اشعارو دیوان چې په "درو مرجان" مشهور دی او کابو درې سوه غزلې لري او څو واره چاپ شوی دی.

۲ - د "شاه ګدا" قصه چې ترده د مخه هلالي په فارسي لیکلې وه. حمید بابا په ۱۱۳۷ هـ کال کې په پښتو ژباړلې ده.

۳ - د مولانا غنیمت نیرنګ عشق دی۷، چې په پښتو مثنوي یې ژباړلی او د خپلې شاعرۍ کمال یې په کې ښودلی دی په پای کې یې ویلي دي:

شعر نه دی دا خوناب د زخمي زړه دی
یا وتلی دستي دم له خولې د مړه دی
یا نغمه د نیم بسمل مرغه د خولې ده
یا مجنـون ته معما ښـکلې لیـلې ده

یــا دوینو اباسـیند وهلـی مــوج دی
یــالــه ښاره د حیــرت وتلـی فوج دی

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د حمید بابا په هکله څو کرښې مقاله ولیکي.
- ښوونکی دې د متن شعرونه معنا او په مفهوم دې رڼا واچوي.

# چاته په سپکه سترګه مه ګوره!

د وینو رنګ یو دی، څه توپیر لري که ځینې عارضي فرقونه موجود وي خو دا فرقونه د وینو رنګ او دانسانیت جوهر بدلولی نه شي...

بډايي او غربت، لوږوالی او ړیتوالی، تنګسه او استراحت پر انسانانوتېریدونکي دي . خو حقیقي انسان هغه دی ، چې نه په بډایۍ، لوږوالي او استراحت دومره مغرور شي، چې خپل ځان ورک کړي، بل څوک تر ځان ښکته وبولي او یا هر چا ته په سپکه سترګه وګوري او نه باید په غربت او تنګسه کې دومره کمزوری شي ، چې خپل ځان بايلي او د ژوندون د مجادلې په ډګر کې وار خطا او ژړغونی ودرېږي.

که ته ولاړ یې ددې معنا دا نه ده، چې بل تر پښو لاندې کړې، بلکې ښه تعبیر به یې داوي، چې بل لویدلی تر لاس ونیسې او پر پښو یې ودروې.

ستالوړوالی په دې کې نه دی، چې نورو ته په ټیټ نظر وګورې او نه ستا دروندوالی په دې زیاتېږي چې بل چاته په سپکه سترګه وګورې. که ته غریب نه یې او د ډېرو ځمکو، ښونو او پیسو خاوند یې، نو دا به ښایي ستا له پاره ښه وي خو دا باید ددې سبب نه شي، چې غریبانو ته په سپکه سترګه وګورې.

دا غریبان که څه هم په خپله یوه جونګړه نه لري، خو د دوی په لاس ډېر لوی کورونه جوړ شوي دي. که د ځان له پاره یوه ونه هم نه لري چې تر سیورې لاندې یې کښینې، خو ډېر لوی باغونه د دوی په زیار او زحمت سمسور دي.

که په خپله یې یوه لوېشت ورانه ځمکه هم نه شته، خو نورې ډېرې شاړې ځمکې یې ودانې کړي دي، د دوی دا زیار د قدر وړ دی او د لاس تنها کې یې مرغلرې دي، نو مه ګوره، ختګر، کاریګر او بزګر ته په سپکه سترګه مه ګوره!

هر مشروع کسب مبارک دی او هر کاسب د خدای ﷻ دوست دی، نو مه ګوره هغه کاسب ته چې له خپله زحمته ځانته حلال رزق پیدا کوي او یا د ده له زحمته نورو ته ګټه رسېږي په سپکه سترګه مه ګوره!

او که د ځان دروندوالی غواړې نو هېچا ته په سپکه سترګه مه ګوره!!

(ګل پاچا الفت)

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې دلوستل شوي متن مطلب په لنډه توګه په خوکرښو کې ولیکي.
- ولې څوک چاته په سپکه سترګه ګوري؟
- یو بل ته په سپکه سترګه کتل څه تاوان لري؟

# فعل او د هغه ډولونه

فعل هغه کلمه ده، چې په یوه زمانه کې د یوه کار په کولو او یاکېدلو دلالت کوي لکه "وایي، وبه وایي، وویل، چې لومړۍ کلمه په حال، دوهمه په راتلونکې او درېمه په تېره زمانه کې د ویلو کار او چار راښیي.

فعل د اشخاصو له مخې په درې ډوله دی: د متکلم فعل، د مخاطب فعل او دغایب فعل، چې دغه هریو، بیا په مفرد، جمع، مذکر او مونث وېشل شوي دي:

فعل د معنا په لحاظ په لازمي، متعدي، معلوم او مجهول مثبت او منفي باندې وېشل کېږي.

لازمي فعل: چې یوازې په فاعل تمامېږي، لکه پاڅېد، کښېناست، وخوت.

متعدي فعل: سر بېره په فاعل، مفعول هم غواړي یعنې یوازې په فاعل نه تمامېږي لکه: ما خط ولیکه، ما خطونه ولیکل، احمد مڼه وخوړه – هلکانو مڼې وخوړې.

که چېرې په جمله کې د یوه فعل فاعل معلوم و هغه ته معلوم فعل وایي لکه: زه دې پېژنم، خو ته مانه پېژنې، او که فاعل معلوم نه و، نو هغه ته مجهول فعل وایي لکه: ورمه شپه میاشت لیدل شوې ده، زلمی هره ورځ وهل کېږي.

مثبت **فعل** د یوه کار په کولو او منفي یې په نه کولو دلالت کوي لکه: زه هره ورځ لامبم، څوک چې نه لامبي د  هغه وجود خیرن وي.
دامرفعل : هغه کلمه ده، چې د هغې په واسطه د یوه کار د کولو حکم کېږي. لکه: وګوره، وخوره، وساته، ولیکه او نور.

**فعل** د زماني په لحاظ په درې ډوله دی: حال، مستقبل او ماضي

**۱ - دحال فعل:**

دحال **فعل** هغه کلمه ده، چې په موجوده زمانه کې د یوه کار په کولو دلالت کوي، لکه وهي، اوري، غواړي، اورم، ګورم، او ګرځم.

**۲ – د مستقبل فعل:**

دمستقبل **فعل** هغه کلمه ده، چې په راتلونکې زمانې کې د یوه کار په کولو دلالت کوي لکه و به لیکم، وبه خورم ،و به وینم، وبه لولم، وبه ګورم او نور.

**۳- ماضي فعل**: د ماضي **فعل** هغې کلمې ته وایي، چې په تېره زمانه کې پر یوه کار دلالت وکړي لکه ولویده، پاڅیدلی دی، وساته او نور. د ماضي ډولونه چې په لاندې ډول ښودل کېږي.

۱ - استمراري ماضي: چې په تېره زمانه کې د یوه **فعل** دوام او استمرار را وښيي. استمراري ماضي د مصدر په پای کې د متصلوضمیرونوپه زیاتولو سره جوړېږي لکه: د ختل مصدرله متصلو ضمیرونو سره  په استمراري ماضي ګانو کې وګورئ!

۱- ختلم، د مفرد متکلم له پاره.
۲ - ختلو، د جمع متکلم له پاره.

۳ - ختلې، د مفرد مخاطب له پاره.
۴ - ختلئ، د جمع مخاطب له پاره.
۵ - خوت، د مفرد مذکر له پاره.
۶ - ختل، د جمع مذکرغایب له پاره.
۷ - ختله، د مفرد مونث غایب له پاره.
۸ - ختلې، د جمع مونث غایب له پاره.
یا نور مثالونه یې لکه: لیده، کاته، خوړ –واژه او نور

۲ - **مطلقه ماضي**: مطلقه ماضي هغه ده، چې په مطلق ډول په تېره زمانه کې د یوه فعل په کولو دلالت وکړي مطلقه ماضي د استمراري ماضي په سر کې د "و" په زیاتولو جوړېږي مثالونه یې دادي:

زه په باغ کې وګرځېدم.
موږ په باغ کې وګرځېدو.
ته چېرې و ګرځېدې؟
تاسې چېرې وګرځېدئ؟
دی په باغ کې وګرځېد.
دوی په باغ کې وګرځېدل.
دا په باغ کې وګرځېده.
دوی په باغ کې و ګرځېدې.

او نور مثالونه یې لکه ولیده، وخوړ، وکوت، وواژه، وراته او نور.

۳ - **نژدې ماضي**: په نژدې زمانه کې د یوه کار په کولو دلالت کوي نژدې ماضي د فعلي صفت په آخر کې د "یم، یو ، یې، دي، ده، دی" په زیاتولو جوړېږي لکه:

ختلی یم، ختلي یو، ختلې یې، ختلی دی، ختلې ده، ختلي دي، لیدلی یم ،لیدلې ده، لیدلي دي، لوستلی دی، خوړلی دی، ګرځېدلې ده.

۴ - **لېرې ماضي**: په لرې زمانه کې د یو ه کار په کولو دلالت کوي لرې ماضي د فعلي صفت په پای کې د "وم، وو، وی، و، وو، وه، وې" په زیاتولو جوړېږي لکه ختلی وم، ختلي وو، ختلې وې، ختلی و، ختلي وو، ختلې وه، ختلې وې او نور مثالونه یې لکه لوستلی و، لیدلی و.

۵ - **امکاني ماضي**: امکاني ماضي هغې ته وایي، چې په تېرې زمانې کې د یوه کار د کولو امکان رابښیي او پر دوه ډوله ده: امکاني استمراري او مطلقه ماضي.

امکاني **استمراري ماضي**: د فعلي صفت په پای کې د "شوم، شوو، شوې، شو، شول " په راوړلو یا زیاتولو جوړېږي لکه: ختلای شوم، ختلای شوو، ختلای شوې، ختلای شو، ختلای شول ختلای شوې.

**امکاني مطلقه ماضي**: د امکاني استمراري ماضي په سر کې د "و" په زياتولو جوړېږي لکه:

وختلای شوم، وختلای شو، وختلای شوې، وختلای شوو، وختلای شول، وختلای شوه، وختلای شوې.

٦ - **احتمالي ماضي**: په تېرې زمانې کې په احتمالي یا شکي ډول د يوه کار په کولو دلالت کوي. احتمالي ماضي د فعلي صفت په پای کې د "به يم، به يو، به يې، به يې" په زياتولو جوړېږي لکه: راغلی به يم، راغلي به يو، راغلې به يې، راغلی به يې.

٧ - **تمنايي ماضي**: په تېرې زمانې کې د يوه فعل د کولو آرزو او هيله ښکاره کوي. په تمنايي ماضي کې د فعلي صفت څخه وروسته "وای او په سر کې يې "که" کاشکې یا کشکې" راځي لکه کشکې زه هم تللی وای، که ته ورغلی وای ښه به و. زړه مې کېده چې تللی وای. کاشکې مې ويلي وای.

٨- **تاکيدي ماضي**: له ليرې ماضي څخه د فعلي صفت په آخر کې د "به" په زياتولو جوړېږي لکه: راغلی به و. تللی به وي، ختلی به وي، لوېدلی به وي.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې دفعل او د هغه دډولونو متن په چوپتيا سره ولولي او بيا دې په لاندې کلمو کې دماضی فعل په نښه کړي.

(وبه خورم، وبه وينم، ولوېده، پاڅېدلی دی)

# پنـــدونه

هغه کار چې په نرمۍ تر ســـره کېږي

څه حاجت چې رساوه شي تـر جنـګـونه

د دښــمن په تملـــق غلطـــي مـــه کړه

د رستم غونډې هم مـــړه دي په مکرونه

عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پرې کا

هـــــر چـــې کـار کا د دښمنو په ورمونه

چې دې لاس په دښمن بر شي پرې یې مه ږده

عـــاقلان به ژونـدي نه پرېږدي مـــارونه

په خپلوانو باندې دومره خشم مــــه کړه

چـــې پردي در ځنې تښـــتي په ملکـونه

که دې ورور وي که دې زوی وي چې بد کار شــو

پــه ځپېـــــړه یې کـــاږه کـــا ورمېږونه

خپل پردي ته د زړه راز خبـره مـه کـړه

د بوخڅې دننه ښــه دي خپــل رختــونه

هر چې شرع فرمـــايي په هغه کار کړه

مه عمل کــوه پـــه رســـم په دودونه

په ځوانۍ کې چې دې کار له لاسه ووځي

په پیرۍ بـــه دې ونــه رســـي لاسونه

خدای (ج) هغه په دواړو کونو دي نمانځلي

چې په ورځ يې عدل وداد په شپه لمـونځونه

چې په زړه پـه تامين د هغـــو ناز وړه

تـــل نيــازمنــو سره وړي دي نازونه

د اصيل شيوه خپل اصل نه لباس دی

په زر بافو کې ياڼم وي يا مريـــــونه

(خوشحال خان ختټک)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې پورتنی شعر په څو زده کوونو باندې په صحیح تلفظ ولولي.
- ښوونکی دې د شعر په اصلي مفهوم رڼا واچوي.
- زده کوونکي دې د شعر يو يو بيت په نثر واړوي.

# مېرزا خان انصاري

مېرزا خان انصاري د نورالدين زوی او د بايزيد روښان لمسی دی. په ټبر " اور مړ" او په غالب ګومان سره د "۹۸۸" هـ ق کال په شاو خوا کې زېږېدلی دی.

بايزيد روښان د افغانستان په تاريخ کې د يوه سربښندونکي اتل حيثيت لري. ده او دده ټبر تر ډېره وخته پورې د مغولي حکومت مقابله کړېده، خو ددغو جګړو څخه وړاندې او وروسته د مېرزا خان انصاري په هکله تاريخ هېڅ نه دي ليکلي، خو دومره اټکل کېږي، چې مېرزا خان انصاري به د روښاني نهضت د مشرۍ څخه بې نيازه و او يابه يو فقير مزاجه سړی و، چې له تبليغي او ديني چارو څخه پرته يې د مشرۍ او واکمنۍ سره مينه نه وه. خپله مېرزا خان انصاري داسې وايي:

"د دنيا په جنجال څرنګ خود نمايې

ښې د دين خبرې زده کړه له خطيبه"

دراورټي انګرېز ختيځ پېژندونکي له وينا سره سم مېرزا خان انصاري يو سياح و، چې له هرات څخه تراګرې پورې په ټول افغانستان او هندوستان کې مشهور و. کېدای شي چې دراورټي

دغه وینا تر ډېره حده حقیقت ولري، د مېرزا خان انصاري له لاندې بیت څخه دده سیاحت معلومېږي:

مېرزا په برهان پور کې ننداره کړه
له اصلي وطنه راغی بیانه ځینه

د مېرزا خان انصاري د مړینې نېټه پوره معلومه نه ده خو دولت لواڼي دده د مړینې نېټه د خپل شعر په یوه بیت کې داسې ښودلې ده:

د دکن په جنګ شهید شوې خشنود اوسه
په تاریخ د زر څلویښت کې دې ګذر و

ددغې جګړې صحنه په خپله د مېرزا خان انصاري په شعر کې داسې انځور شوېده:

په تاریخ د زر څلوېښت و دا خبر
چې لیده شو په دکن ګوجرات جبر

له دې شعر څخه څرګندېږي چې مېرزا خان انصاري په(۱۰۴۰) هـ ق کال د دکن په یوه جنګ کې شهید شوی دی.

د مېرزا خان انصاري شاعري:

مېرزا خان انصاري د بشپړ دیوان خاوند دی، چې ځینو لیکوالو د پښتنو شاعرانو په لومړۍ لیکه کې شمېرلی دی.

د مېرزاخان انصاري شاعري تصوفي رنګ لري. کلام يې له توحيدي اسرارو او رمزونو ډک دی. دوحدت او معرفت رازونه يې ډېر ښکلي بيان کړيدي. دده د ديوان ادبي، علمي او تاريخي ارزښت له دې ځرګندېږي چې کلام يې موږ ته د تصوف ديوې منظمې مفکورې په توګه وړاندې شوی دی.

همدارنګه که موږ د انصاري ديوان په غور سره تر کتنې لاندې ونيسو جوتېږي، چې دده د تصوف کيفيات دعبدالرحمن بابا غوندې ښکاره نه دي، خوسره له دې يې ديوان له زياتو ښېګڼو څخه ډک او ډېرې هغه موضوعګانې لري چې تصوفي دنيا پرې رنګينه ده.

نن به وکړم څو صفته　　　　د مولا له ارادته

هر يو فعل چې يې وينې　　　　خالي نه دی له حکمته

پر احمد ﷺ نزول قرآن شو　　　　چې سل څوارلس يې سورته

د ميرزا کلام شيرين شو
د روښان له برکته

# مېرمن نازو

دا مېرمن د ملي قايد ميرويس خان مور ده، چې ددې ژوند او اشعار د پښتو په ارزښت ناک اثر "پټه خزانه" کې ذکر شوي دي او دا مېرمن يې داسې معرفي کړې ده: "هسې نقل کا چې نازو د سلطان ملخي توخي لور وه، زېږېدنه يې په ۱۶۰۱ ع کال په هغه ځای کې شوې وه چې تازي [۱] نومېږي. سلطان ملخی په هغه وخت کې له غزني تر جلدکه پورې د اقوامو مشر و او په استقلال يې حکومت کاوه. مېرمن نازو په کوچنيوالي کې د پښتنو مېرمنو او سپين ږيرو علماوو څخه لوست وکړ او داسې ښځه وه، چې نارينه يې مېړانې، شجاعت او سخاوت ته حيران وو. روايت دی چې سلطان ملخی سره غره ته نږدې په جنګ کې مړ شو او حاجي عادل چې د نازو ورور و، دپلار په انتقام جنګ ته ولاړ، کور او کلا يې نازو ته پرېښوده. په هغه وخت کې نازو توره په ملا کړه او د جنګياليو ځوانانو سره يې کور او کلا د دښمنانو له تاړاکه وساتله.

ماته خپل پلار نقل کا، چې نازو انا په مېلمستيا، د غريبانو او مسافرانو په پالنه معروفه وه او هر وخت چې به په ژمي کې د

---

[۱] تازي: يو رباط دی د کلات او کندهار تر منځ.

مسافرانو قافلې راغلې، د نازو پر کلايې اړول،او تل به يې د خپلو مېلمنو ښه پالنه کوله. دوی ته به يې ډوډۍ ورکوله، چا به چې کالي نه درلودل کالي يې ورکول او د سخاوت نوم يې خپور شو.
نازو انا په حباله د ښالم خان هوتک وه، چې د کرم خان زوی و او د هوتکو ښالم خېل چې يو وخت د کندهار او اصفهان بادشاهي د دوی وه له دې شجرې څخه دي.

مېرمن نازو څلور زامن درلودل، چې مشر يې حاجي ميرويس خان و، او نور عبدالعزيز خان، يحيی خان او عبدالقادر خان دي"

هسې روايت کا مؤلف له خپله پلاره چې:

"نازو انا عابده او صالحه ښځه وه او خپلو زامنو ته يې ټول عمر په او داسه شېدې ورکولې کله چې حاجی مير خان وزېږيد خوب يې وليد:

شيخ بيټنی رحمت الله عليه ورته وايي: "دازوی ښه وروزه، چې لوی کارونه به وکا او په زيارت د بيت الله به ځان مشرف کا او له نسله به يې پيدا شي پادشاهان چې دين به روښانه کا"

زما پلار هسې ويل: چې نازو انا سربېره پر سخاوت، شجاعت او عبادت هسې ښځه وه، چې د خدای تعالی په مناجات کې يې ډېر

اشعار وويل او يو ديوان يې درلود، چې دوه زره بيتونه په کې وو او دلته يې ښه نکات ادا کړي او دغه رباعي د نازو انا ده چې ما له خپله پلاره اورېدلې وه.

| | |
|---|---|
| سحر ګه وه د نرګس لېمه لانده | څاڅکي، څاڅکي يې له سترګو څڅېده |
| ما ويل څه دي ښکليه ګله ولې ژاړې! | ده ويل ژوند مې دی يوه خوله خنديده |

پورتنۍ څلوريځې ته چې سړی ښه ځير شي، ددې مېرمنې لوړ فلسفي افکار ښه په کې ځلېږي. د ژوند او مرګ، خوش بينۍ او بد بينۍ نظريه يې په ډېر ښه شان په کې انځور کړې ده. همدا فکر او د ژوند فلسفه د شرق نامتو فيلسوف."اقبال" کابو، دوه سوه کاله ترديې وروسته په خوږو الفاظو کې راوړې او وايي:

| | |
|---|---|
| شب زار بگريست ابــــر بــهـــار | که اين زنده‌گی گريه پی هم اســـت |
| درخشيد برق ســـبک سير گفت | خطا کـــرده ای خندۀ يک دم اســـت |

ددې مېرمنې نورې پېژندنې ته اړتيا نشته فقط همدغه وياړ يې بس دی، چې دې ملت ته يې د ملي قايد ميرويس خان په شان نابغه او ننګيالی زوی وړاندې کړی دی، چې د وطن د آزادۍ تاريخ به هېڅکله دده کار نامې هېرې نه کړي.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د مېرمن نازو په هکله يوه لنډه مقاله وليکي.
- زده کوونکي دې د نازو انا او د شرق د نامتو فيلسوف «اقبال» په رباعي ګانو خبرې وکړي او مطلب دې روښانه کړي.

# د افغان حال

لوړې ژورې، شاړې دښتې شنې درې مې د مُلک
ټولې زما په وينو سرې دي زه به چيرې ولاړ شم

په سترو خوارو مې د قام ټول هيوادونه ډک دي
خدايه! دا څه سختې شپې دي زه به چيرې و لاړ شم

چې د جهان سوکالي وينم نيـــنه، نيـــنه شم
پرما دغم تورې تيـارې دي زه به چـــيرې ولاړ شم

زه د بې وزلو په حال ژاړم د خـــوارانو مل يم
دلته ځوريږي که هورې دي زه به چيـــرې ولاړ شم

زما کيسه کې بې له غمه به نور څه وي آشنا
په غم لړلې افسانې دي زه بـــه چيـــرې ولاړ شـــم

څوک به پيدا شي چې په خوار ولس مې زړه وسوځي
په هر زړه سواند مې داناړې دي زه به چيرې ولاړشم

زه بيده زړونه لټوم چې په کې درد پيدا کړم
خو افسوس دا کيسې زړې دي زه به چيرې و لاړشم

بيا دې جهان کـــړ،راته اور د مظلوم يار قلمه!
دا څه دوير سوې نغمې دي زه به چيرې ولاړشم (مظلوم يار)

# قیدونه

قیدونه هغه کلمې دي، چې د فعلونو حالت زمان، ځای او مقدار راښيي. لکه: "زلمی په خندا راغی" دلته په دې مثال کې د راتلو فعل یو بل شی پورې مقید شو او هغه د خندا حالت دی. چې قید ورته وايي.

د قید ډولونه:

۱ - د زماني قیدونه: چې د یوه فعل زمانه او وخت څرګند وي. لکه: پرون ولاړم، اوس راغلم، زه کار ته تل راځم، هرکله راشې، هر کله اوسې.

۲ - د ځای او مکان قیدونه: لکه: دلته کښېنه، پاس وخېژه، کښته کوز شه، وړاندې لاړم، نږدې راغله.

۳ - د شک قیدونه: لکه: ګوندې راشي، ښايي سبا ته ولاړ شم ممکن وو ايې.

۴ - د علت قیدونه: لکه: ولې ځې؟ ولې نه کښېنې؟

۵- د وضعیت او حالت قیود: لکه: ژر ژر راځه، په منډه منډه ځه، باران ورو ورو اوري؟

**یاد ګېرنه:** په پښتو کې صفات هم د قید په ډول استعمالېږي لکه یوائې مه ځه، له دې سره په ملګرتیا ولاړ شه، پرون له مانه پټ ولاړې، زلمی هلته غلی ناست دی.

# متلونه

۱- درواغ د ایمان زوال دی.

۲- دزړه، زړه ته لار وي.

۳- د زمري غار بې هډوکو نه وي.

۴- د عقل ورې نشته او ددنیا موړ.

۵- ځمکه هغه سوزي چې اور پرې بلېږي.

۶- اوښ په بډه نه وهل کېږي.

۷- په یوه پښه کې دوه پښې نه ځایېږي.

۸- سترګه په ښو نه دړ نېږي.

۹- لوی مې کړې لویي را مه کړې.

۱۰- که نن پرما سبا پر تا.

۱۱- پړ مې کړه مړ مې کړه.

۱۲- دوه غوایي چې ښکر په ښکر شي،د مېږې پښه په کې ماتېږي.

۱۳- دریاب په لوټه نه خړېږي.

۱۴- دښمن هغه دی چې اول (هو) او آخر یې (نه) وي.

۱۵- د وچو سره لامده هم سوزي.

۱۶- د لندو ختو لړې اوبه دارو وي.

۱۷- چې قهر زورور شي نو عقل مرور شي.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې په خپله خوښه د یوه متل مطلب په خپلو کتابچو کې ولیکي.
- زده کوونکي دې د متل د استعمال په ځای خبرې وکړي.

# دا څنګه کېدلای شي؟

هم ځان هم د ځان نيکه!

هم زوی، هم ماما!

هم پلار، هم زوم!

هم زوی، هم خسر!

هم مانديه، هم انا!

يوه اروپايي ټوکې ليکونکي دا خبره داسې حل کړې ده چې وايي:

"ما يوه کونډه ښځه وکړه، چې دې کونډې يوه ښکلې لور درلودله، زما پلار د کونډې په لور مين شو او هغه يې په نکاح کړه، چې په دې ترتيب نو زما پلار زما زوم او زه د خپل پلار خسر شوم.

زما زوی پيدا شو چې هم زما زوی و او هم مې ماما ځکه چې خور يې زما د پلار مانديه وه، نو زما زوی زما ماما هم شو څنګه چې زما ښځه زما د پلار د ښځې مور وه، نو زما ښځه هم زما مانديه او هم زما انا شوه او څنګه چې د انا مېړه نيکه کېږي، نو زه هم د ځان نيکه شوم!!"

# د شاعر مدحه

ابو العینا ، د بغداد مشهور شاعر او ټوکي د مصر له ټوکي شاعر ابن مکرم سره د کوم امیر په مجلس کې څنګ پر څنګ ناست و، او یو د بل سره یې پټې پټې خبرې کولې.

امیر د دوی سر ګوشۍ ته ځیر شو، او د ټوکې په ډول یې ورته وویل:

بیا څه دروغ جوړوئ!!"

ابوالعینا سمدلاسه ځواب ورکړ:

"ستاسې مدح کوو!"

---

پوښتنې:

۱ - ددغه درس مفهوم څه دی؟

۲ - د ابو العینا خبرې څه معنا لري؟

# غــزل

هرڅه شوي په ازل کې نور بـــه نشـي
چې يې برخه د پياده، ده سور به نشـــي

که په سل رنګه تدبير احتياط پرې وکا
هغه شپه چې يې د ګور وي کور به نشـي

په لباس د بېګانه وو غلط مــه شـــه
چې له مور وپلاره نه وي ورور به نشـي

ذاتي تور زړونه په وعظ نه سپينېږي
هغه زړه چې خدای ﷻ سپين کړی تور به نشي

بېدردان به په درد کله کړې "يونســـه"!
مړې ايرې که هر څو پو کړې اور به نشـي

يونس

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې دپورته غزل اصلي مطلب باندی خبرې وکړي۔
- زده کوونکي دې په شعر کې هم وزنه کلمې په ګوته کړي۔
- زده کوونکي دې د لاندې کلمو ضد پيدا او په خپلو کتابچو کې دې يې وليکي.

(سپين، سور، شپه، تور)

# وایي چې

د سقراط په وختو کې یو سړی د جنګ له میدان نه وتښتېد، نو سقراط ورته وویل: دا ډېر شرم دی!

هغه سړي وویل: که دا شرم قبول نه کړم نو مرګ دی.

سقراط وویل: ژوند هغه وخت ښه وي، چې وروسته شرافت ولري که دا نه وي نو تر بې شرافته ژوند مرګ ښه دی!

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د پورتني لوست اصلي مطلب په څو کرښو کې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د ځان وير

يو د خپـل ځان نه يم، نور چې ګورې د هر چا يمه
خدايږو د ژړايمـه
ځانته درمل نـــه شــوم، خو د نورو تــل دوايمه
خـدايږو د ژړا يمه
نوې شوه نغمــه د ژوند ګرمه هنګامـــه د ژوند
تېــزه قـــافلـه د ژوند
يو زه تنهـا پاتــې بې جـرس او بــې صــــدا يمه
خدايږو د ژړا يمـه
بند په ســـاحري دچا قيد کړم سامري د چا
وريت شوم په نغري دچا
ســـوځم نـه پوهېږم وريتېدو ته پـه خنـــدايمه
خـدايږو د ژړا يمه
ځانتـــه ويرانه يمه بل تـه خـــزانه يمه
پټه افســـانه يمه
پـــه ځـان مې څــه ونه کړه په تعريف د تېرابايمه
خدايږو د ژړا يمه
ورکـــــه ابتدا زما سر شوه انتـــها زما
تور تم ده دنيـا زما
نــــن پرون مې ولاړه، نـــا خبــره له سبا يمه
خـدايږو د ژړا يمه

(عبدالروف بينوا)

# یووالی

یوه ورځ ما دهېواد یو خورا زوړ تاریخ چې تقریباً زرکاله د مخه د نامتو مؤرخ ابو الفضل بیهقي له خوا لیکل شوی و وکوت. په دې تاریخ کې یې زموږ د هېواد حال د مرحوم سلطان محمود زابلي او دده د زامنو په عصر کې مفصل لیکلی دی.

له دغه تاریخه ښه څرګندېږي، چې په هغه وخت یا د غزنویانو په عصر کې زموږ هېواد څومره د جلال او برم خاوند و. غزنی د غزنویانو د شاهنشاهۍ لوی مرکز و، د سلطان محمود زوی "مسعود" چې د هرات نایب الحکومه و دخپل شاو خوا ډېر مملکتونه یې ونیول.

بیهقي زموږ د هېواد نامتو مورخ لیکلي:

مسعود غوښته، بغداد چې د آسیا د شاهنشاهۍ یو لوی مرکز و، ونیسي او ټوله اېشیا د غزني تر پاچهۍ لاندې کړي. مګر کله چې دی په ایران کې و، دده پلار سلطان محمود په غزني کې وفات شو. او په دغه لوړه موخه کې بریالی نشو، چې دافغانانو د پاچهۍ بیرغ

یې په ټوله اسیا کې جګ کړی وای، نو بېرته له ایران څخه غزنی ته راغی!

ما چې دغه تاریخي کیفیت ولوست، په دې فکر کې شوم، چې آیا ددې دومره لوړتیاوو، پرمختګونو او فتوحاتو دلیل او سبب څه و؟

د دغو ټولو بریاوو یو مهم سبب دغه و، چې په هغه وخت کې

د افغانستان خلکو د وحدت بیرغ لوړ کړی او بې امتیازه یې په ټینګ اتفاق او یووالي ژوند کاوه، ټولو د هېواد د لوړتیا له پاره زیار ایسته او له خپل حکومت سره په ټولو اقداماتو کې د ریښتیا ملګري وو، نو ځکه نتیجه یې دا وه، چې د ګنګا له غاړو څخه بیا تر دجلې او فرات پورې د دوی برم خپور و، او د ملي وحدت په برکت یې په آسیا کې مرکزي حیثیت وموند.

مګر هغه وخت چې دوی هغه یووالی له لاسه ورکړ، نو هغه نیولي هېوادونه څه، بلکې خپلې مځکې یې هم له لاسه ووتې، په ډېرو بد بختیو اخته شول، ځکه چې یووالی د ولسونو د لوړتیا لومړی او ټینګ بنسټ دی او هېڅ ملت بې له هغه نه شي لوړېدلی.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د یووالي د ارزښت او ګټو په هکله څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د وینا آزادي

حضرت بي بي زینب (رض) د اسلامي تاریخ له ډېرو نامتو ښځو څخه ده. په بشري تاریخ کې یې د حق او رښتینولۍ په لار کې بې ساري هڅې او ټینګار کړی دی. په کربلا کې یې د بندیتوب او د بندیتوب په حالت کې یې شام ته له لېږدوني وروسته د یزید په مخکې دا خطبه وویله: ((ای د ابو سفیان زویه! که څه هم ته نن زموږ وژل او بندیتوب غنیمت ګڼې او پرې ویاړې ،خو تر ډېره به نه وي او ډېر ژر به پښېمانه شي.

هغه به داسې ورځ وي چې څه دې کړي هغه به و ویني. ای یزیده! دا چې ځمکه او آسمان دې پر موږ تنګ کړي او مونږ بندیان له یو ځای څخه بل ځای ته وړې، دا ګومان کوې چې موږ خدای ﷻ ته خوار او سپک شوي یو او ته ورته نږدې شوی یې؟ او په دغه خام او له کبره ډک تصور خوښ یې؟ دا چې نړۍ دې ودانه شوې او ټولې چارې ستا په خوښه تر سره کېږي ، خو له آخرت نه خبر نه یې.

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون

---

## *د دواړو رضائيت (ښځه او نارينه) دميرمنې او ميړه په تړاکلو کې دکورنۍ او ټولنې سلامتي ده.*

.............................................

کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.
(دافغانستان داساسي قانون له څلورپنځوسمې مادې څخه)

کورنۍ دټولنې دجوړولو ستنه ده او واده کول د هغې بنسټ جوړوي، نوځکه ښځې او نارينه د واده کولو حق لري او هيڅ داسې يوبنديز چې دنژاد ، رنګ او يا هم دقوم له مخې وي، نشي کولای چې د دغه حق مخه ونيسي.
(دبشري حقونو داسلامي اعلاميې پنځمه ماده، دالف بند)

# زده کړه!

په نغمه لکه بلبل غږېدل زده کـــړه!

پټه خوله وینا د ګل له بلبل زده کړه!

رخت په سر کړه له غنچې نه را بهر شــه!

په هوا لکه وږمه چلېـــدل زده کــړه!

د ازغي په څېر د ګل ســره همراز شـه

په زيږه صورت د ګلو ساتل زده کړه!

نســـترن شه په آغوش سرو آزاد کړه

له هر بوټي د ګلشن تاوېدل زده کړه!

کورني مرغه په شان به څومره ژوند کــړې

د شاهين په دود آزاد الوتل زده کړه!

که د نورو آســايش او آرام غــواړې

ګهوارې غوندې د ځان کړېدل زده کړه!

راحت پرېږده، زحمت واخلـه "سيد حســنه"!

د هېواد په درد و غم ژړېدل زده کړه! (سيد حسن)

---

سپارښتنه: زده کوونکې دې دذکرشوي شعر مطلب په خپلو کتابچو کې وليکي.

# دوه رنګي

د یوه ګل چې څومره رنګونه ډېر وي ښکلا یې هومره زیاته او چې هر څومره مخونه ولري هغومره د ستاینې ور وي.

خو یو انسان که دوه رنګی شو، یا یې ځان دوه مخی وښود، نو نور یې مخ د کتو نه دی. پوهان وایي: "ځنګه چې یې هغسې ځان وښیه او ځنګه چې ځان ښیې هغسې اوسه!"

خو ځینې انسانان شته، چې نه یوازې څو رنګه او څو مخه لري بلکې ورسره یې څو ژبې هم په خوله کې وي او د ماهرو اکټرانو(actores) یعنې لوبغاړو په څېر د خپل هر رنګ او هرمخ د ښودلو لهپاره ځانګړې صحنې لټوي، او د خپلې ژبې له پاره ځانته وخت او ځای ګوري.

داسې انسانان د نورو په رنګ رنګېدل نه غواړي، خو دځان د رنګ په بدلون کې دومره ماهر وي، چې نور په خپل رنګ ژر غولولی شي. د مخونو په پېژندلو کې لوی لاس لري. دوی له خپلې ژبې ګرځي او خپله ژبه هم د هر چا او هر ځای د اقتضا سره ګرځوي.

دوی د هر مجلس له رنګ سره خپل رنګ بدلولی شي او د هر چا د خوب رګ یې ځان ته معلوم کړی دی. دوی په همدغه یوه ژبه غله ته وایي غلا کوه او د کور خاوند ته وایي کور ساته، ظالم ته د ظلم لار ښیي او مظلوم ته د غچ اخیستلو سترګکونه وهي.

داسې دوه مخي، دوه رنګي او دوه ژبي کسان په ټولنه کې د وحدت، یووالي او ښه نیت دله منځه وړلو لامل ګرځي. د دې له پاره چې د دوه رنګۍ او دوه مخۍ له بدبختیو او بدګومانیو ځخه ځانونه وژغورو باید په ټینګه زیار وباسو، چې هر چا ته او په هر مجلس کې چې څنګه یو، هسې ځانونه وښیو او چې څنګه ځانونه ښیو، هغسې و اوسو.

دوی په خپله ژبه پسې نه ګرځي خو خپله ژبه د هر چا او هر ځای د اقتضا سره ګرځوي.

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د دوه رنګۍ، دوه مخۍ د بدو پایلو په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي.
- زده کوونکي دې د دوه رنګي په هکله یوه لنډه مقاله ولیکي.

# عـزت

عزت نشـتـه زورورو پــه حضــور کې
لويي نشــــته تکبر او په غـــرور کې

قبلېدل د چا په در کې لوی ذلت دی
که نقصان نه وي په سترګو او شعور کې

له معنا او له کمال سـره آشـــنا شه
موندل کېږي لوی عزت د علــم نور کې

خوشحالي په ډېر دولت او مال کې نشته
ښه ژوندون بويه د زړونو په ســـرور کې

د حسد او حرص خاوند پـه اور کــړېږي
لئيمان وي شپه او ورځ په سره تنور کې

ملنګان يې د دوهۍ په غاړه مومــي
کوم تود والی چې مالدارمومي په کورکې

(ګل پاچا الفت)

---

لاندې لغتونه معنا او په مناسبو جملو کې استعمال کړئ.

غرور - ذلت - سرور - حسد - بويه - حرص - دوهۍ - لئيمان

# ترجمه

د پښتو ژبې د ښېرازۍ او د ژوندانه د اړتیاو په بنسټ ورځ په ورځ له نورو ژبو څخه په پښتو ژبه کې د ژباړې لمن پراخېږي، د نړۍ یوه ژبه هم بې له ترجمو څخه مخ په وړاندې نشي تلای. پښتو هم اورمرو ژباړو ته اړتیا لري او په دې وسیله به د پښتو ژبې لمن له علمي آثارو څخه ډکېږي.

مګر په یوه ژبه کې له نورو ژبو د علمي کتابونو او آثارو ژباړل ځینې شرطونه هم لري. که چېرې هغه شرطونه برابر نه وي، نو بیا ژبې ته د ګټې په ځای زیان رسوي. د ژباړې له لارې یوه ژبه بډایه کېږي چې په دې بډایتوب کې علمي، تاریخي، تخنیکي او هر ډول معلوماتي مضامین راتللای شي. ژباړه یو لړ اصول لري چې ژباړونکي یې باید د ژباړې په وخت کې وکاروي. نو له دې کبله غواړو چې په دې برخه کې ځینې لارښوونې وکړو:

۱- له هر څه څخه لومړی په خپله ژباړونکو ته پوره غور او پاملرنه پکار ده. که څوک په دغه کار کې بې پروایي کوي او د هغو د ښه والي خیال ونه ساتي نو د هغوی ترجمې به خامخا بې مزې وي.

۲- ترجمه کوونکی باید په دواړو ژبو ښه پوه وي،او که داسې نه وي نو ژباړه به یې خامخا د معنا ، تعبیر او مطلب له مخې کمزورې راځي. او دا د یوې ژباړې له پاره لوی عیب ګڼل کېږي.

۳- ښه ژباړه هغه ده، چې په محاوره برابره او د خلکو له پوهې سره سمه وي. له محاورې څخه وتلې ژباړه بې ارزښته بلل کېږي.

۴- - ټکي په ټکي ژباړه هم سمه او خوږه نه راځي. بلکې د يوې موضوع مطلب او معنا دې د پښتو ژبې په قالب او چوکاټ کې واچول شي. هڅه دې وشي، چې د بلې ژبې لغات په کې نه وي. ډېرې اوږدې جملې باید رانه وړل شي. مبتدا او خبر دې يو تر بله نږدې وي.

که چېرې يو مطلب په يوه جمله کې نه بيانېږي نو بيا د عطف دتورو په واسطه د جملو تر منځ د ترون راوستل په کار دي.

۵- کټ مټ د بلې ژبې په ډول ژباړل د ژبې ملا ما تول دي، مثلاً که څوک "ضرب زيداً عمراً" داسې ترجمه کړي "وواهه زيد عمر" نو دا به څومره ناوړه ژباړه وي که د پښتو په محاوره يې برابره داسې و ژباړي: زيد عمر وواهه" نو خوږه پښتو به ترې جوړه شي.

۶- په پښتو کې د فعلي جملې ډول او بڼه دا ده چې لومړی فاعل، بيا مفعول او وروسته فعل راځي مګر په عربي کې لومړی فعل، بيا فاعل او وروسته مفعول راوړل کېږي، نو ځکه له نورو ژبو څخه هم ټکي په ټکي ژباړه سمه او روغه نشي راتلای.

۷- په ژباړه کې کټ مټ د بلې ژبې د اصطلاحاتو او تعبيرونو اخيستل غلط کار دی.

د فارسي "قرار معلوم" د معلوم له قراره ژباړل د فارسي او پښتو دواړو خرابول دي.

په دې ډول د فارسي "لب دريا" په پښتو کې د سيند غاړه" ژباړل کېږي، که څوک يې "د سيند شونډه" و ژباړي نو څومره ناوړه ژباړه به وي.

۸- د نومونو او اعلامو ژباړل سم کار نه دی ښايي چې د نومونو ژباړل په خپل شکل راشي او اصلي رنګ او بڼه يې بدله نشي. مثلاً که څوک "اناتول فرانسي" د فرانسې په اناتول و ژباړي نو دا به د بې ذوقۍ يوه لويه نښه وي.

۹- ښايي چې ژباړونکی د ژباړل شوي کتاب د ليکلو د زمانې په لغاتو او حالاتو او د کتاب د ليکلو په سبب او علت ښه خبر وي.

۱۰- ښايي چې ژباړونکی د علمي وړتيا خاوند او د پراخې مطالعې څښتن وي.

۱۱ - ښايي چې ژباړونکی په خپله ژبه کې پوره مهارت او برلاسي ولري او د خپلې ژبې له قواعدو، اصطلاحاتو، متلونو او لغاتو څخه په ښه شان خبر وي.

۱۲ - ژباړه بايد په معنا او مفهوم کې له اصلي مطلب سره سمه وي. يعنی د اصلي مضمون له مطلب څخه څه په کې کموالی او يا زياتوالی را نشي.

۱۳- د ښې ژباړې صفت دا دی، چې اصلي مطلب په کې داسې راوړل شي، چې لوستونکی پرې د ژباړې ګومان ونه کړي، او اصلي مضمون يې وبولي.

# زلـــزله

چې د حق چيغه له سوي زړه بهر شـي

جوړ توپان شي په دښمن ور برابر شي

ډېر سرونه سره پـرې باســـي له تختــه

ډېر د کبر سرداران پرې در پــه در شي

د ظالم له لاسه توی شي تړمې اوښــکې

سره یو ځای شي سېلاب شي سمندر شي

سره رودونه چې د وينو پرې ورګډ شــي

نو پاڅـــون د پرګنو مـــو بختــور شي

د ظالم په هډو جوړه زلــزله کـــړي

وار خطـــا او لالهانـــده ستمګر شي

د ظالم تختونه پرې باسي پر ځمـــکه

د مظلوم په کلي کور کې جوړ اختر شــــي

د مظلوم له فريادو مې اوريـدلـي

دظالم به همېشه خاورې په سر شــي

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې دپورتني شعر په اصلي مفهوم رڼا واچوی.

# مثنوي

له هر چا سره چې يو نفس قرين شوم
د هغو له خويه بويه په زړه شين شوم

زړه مې خوږ په هېچا نشي په عالم کې
له عالمه سره زيست کړم په ډېر غم کې

چې د سود له مخې څوک را سره يار شو
چې يې خپل مقصد پوره شونوروېزار شو

چې يې مخ په مخ لـه تاسره وفا وي
په قضا در سره خير په سل جفا وي

چې يې ښه ګڼې هغه در سره بد شي
تل له تا سره په رخه په حسد شي

هرچه تا سره ياري کا نه ياران دي
همګي واړه لړم دي يا ماران دي

تش د خولې لباس مباس دی سره کېږي
د هر چا خاطر خپل سودو ته پړ کېږي

د راحت په وخت سل لافې دياري کا
د محنت ساعت چې راشي بېزاري کا

شاه جهان بادشاه څه لږ نه وو، نمنځلي
چې په بند شو همګي ووځنې تللي

(خوشحال خان خټک)

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د پورتنې مثنوی بيتونه معنا او په مفهوم دې رڼا واچوي.

# د نشې زیانونه

نشه او نشه يي‌ز شيزونه هغه سترې ستونزې دي، چې بشر له ډېرو پخوا زمانو څخه ور سره مخامخ دی. نشه نه يوازې په خپله د نشه کوونکي له پاره ، بلکې د هغه د کورنۍ او ټولنې له پاره هم لويه ستونزه ده.

ځکه نشه يي انسان له کار او روزګار څخه لوېدلی، يوازې او يوازې د خپلې نشې په فکر کې وي. دی له دې ټولو ناولتياوو اوخپلې بد نامۍ سره د خپلې کورنۍ او ټولنې د اوږوبار دی.

هغه کسان چې نشه کوي غير نورمال خلک دي. دوی همېشه غړند او ناروغه وي. څوک يې په خبرو باورنه کوي او ټول خلک ترې بيزاره وي، د نشې د موادو د پيدا کولو له پاره له هېڅ ډول جنايت لکه غلا ، لار وهل او وژنې څخه هم دريغ نه کوي. له خپلې کورنۍ او ټولنې سره ښې اړيکې نه لري او د دوی له خوا هر وخت شړل کېږي. نشه کوونکي ډېر ډارن، بوی ناک او تل خيرن وي.

## د سګرټو او نسوارو زيانونه:

له څو کلونو را په دې خوا نوموړي مواد عام شوي چې خلک هغه په مختلفو ډولونو لکه: سګرټ ،پنيل (پيپ)، چلم او نورو طريقو سره استعمالوي.

په تمباکو کې ډېر خطرناک مواد لکه نيکو تين او بنزوين شته که له ۳۰ څخه تر ۴۰ ملي ګرامه پورې نيکوتين چاته پيچکاري شي د هغه د مرګ سبب ګرځي.

تمباکو چې په هر شکل وکارول شي نوموړي مضر مواد بدن ته داخلوي.

هغه کسان چې د نورو په وړاندې تمباکو څکوي په غير مستقيم ډول هغه مضر مواد د ناستو کسانو بدن ته داخلوي، ځکه چې د هغو مضره مواد په ډېرې آسانۍ سره د خولې او پوزې د مخاطي غشا له لارې جذبېږي.

چرس يوه ډېره خطرناکه ماده ده چې تترا هايدرو کانابينول Tetrahydro cannobinol نومېږي. بنګ هم په مختلفو شکلونو لکه: څکول، څښل او نورو طريقو کارول کېږي. د بنګو له پخو

دانو او څه نورو موادو څخه د بنګاوې په نوم يو شربت جوړوي چې د هغې څښل د جسمي قوې د کمزورۍ او ډېر څښل يې د مرګ سبب هم کېږي.

## شراب يا الکول:

شراب يو له هغو مخدره موادو څخه دي چې په ټوله نړۍ کې عموميت لري او ډېر زيات کارول کېږي. شراب د مېوو او غلو دانو له تخمونو څخه لاس ته راځي. پر شرابو اخته کېدل د شعور، ارادې او درک د انحراف سبب ګرځي. شرابيان هغه خلک دي، چې د شوق او تقليد له مخې د شرابو په څښلو پيل او ورو ورو په کې داسې اصراف کوي چې د دوی له ژوند سره اړين او ضروري شي.

دا ډول خلک په خپله کورنۍ او ټولنه کې رټل شوي او د کرکې وړ دي. د ارادې د نه درلودو له امله څوک پرې اعتماد نشي کولای د بدبوی _ تعفن او ډول ډول ناروغيو له امله د کور او ټولنې خلک ورسره خپلې اړيکې شلوي او په ګوښه کې اوسېږي.

د دوی پياوړتيا ورځ په ورځ کمېږي. په عصبي، تنفسي او هضمي سيستمونو کې يې ګډو ډۍ منځ ته راځي. د شعور له لاسه ورکول د فشار د جګوالي، د زړه د ناروغۍ او د ړندېدو عامل ګرځي.

# اپین (ترياك)

اپین لـه ډېـرو خطرنـاکو نـشه کوونکـو مـوادو څخـه دي، چـې د کوکنارو له شيرې څخه لاس ته راځي اوله هغې څخه ډېر خطرنـاک مواد لکه: مورفين او هيرويين جوړېږي.

اپین، نـسواري تـوربخن رنـګ لـري او تـريخ دی. زيـاتره د هـضمي سيـستم لـه لارې جذبېږي د هغـه پرلـه پـسې اسـتعمال د پوسـتکي دوچېدو، پرلـه پـسې قبـضيت او د لـږ خوراکۍ سبب هم ګرځي. د ځينــو راپورونــو لــه مخــې پــه هــضمي سيــستم کــې د اپينــو استعمالوونکي د سرطان په ناروغيو اختـه او ان د وژلو سبب يې کېږي.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د نشې د زيانونو په هکله څو کرښې وليکي.

# ځلورېځې

زارشم، قربان شم د پلار تر پنده        راته یې ووې زما فرزنده!
لذت د ور کړې تر ساتل ډېر دی        خوبې خبر یې ممسک له خونده

...

چې به ترې نه وو ګلونه لاندې        خوب به یې نشو په پالنګ باندې
اوس په لحد کې پراته په خاورو        پرې زرغونه شول ګنډېرې، سپاندې

...

ځوانمرد هغه دی چې لکه شمع        د ځان په سولو مجلس کا جمع
دبل له پاره که په خنداوي        پرمخ یې درومي باران د دمع

...

ژبه عادت کړه په ښو خبرو        خبرې ښې دې ښې ترشکرو
د خوند مثال یې شکرې وایم        قدر یې ډېر دی تر مرغلرو

...

دا پند له مانه په زړه کې یاد کړه        څو چې دې وس وي مروت و داد کړه
زړونه د هرچا په احسان ښاد کړه        آزاد بنده کړه، بنده آزاد کړه

....

چې حاضر نه وي ورته ښه وایه        که هرڅو بدوي بد یې مه وایه
که لږ و ډېر عیب په یار کې وینې        چې مخامخ شي ورته یې ووایه

...

که ډېر څه درکا باندې مه وياړه        د خدایه غیر نور څه مه غواړه
ژړا د قرب ژړا د بعد ده        وخدای ته ژاړه له خدای مه ژاړه

...

بحر خاموش دی سیلاب غُرغُــرلري — سیلاب تش لاسی سیند دامن پُر لري
د سیلاب ګېډه له کاڼو ډکــه ده — بحر په ګېډه کې قیمـــتي دُر لري

. . .

که سپین اوسره يې په کورکې تل وي — چـې نه يـې عـلم نـه يـې عـمل وي
بنیاد يې نشته آخـر به خوار شي — بخت بـه تـرکـومـه ور سره مـل وي

(عبد القادر خان خټک)

---

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| ممسک | بخیل |
| دمع | اوښکه |
| ویاړل | فخر کول |
| قرب | نژدېوالی |
| بعد | لرېوالی |
| بحر | سمندر |
| مروت | مېړانه |
| داد | سخاوت |

❖ د لاندې بیت مفهوم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ژبه عـادت کړه په ښـــو خبرو — خــبرې ښې دي ښې ترشکرو
د خوند مثال يې شکرې وایـــم — قــدر يې ډېر دی تـر مرغــلرو

د نشه يي توكو پرضد مبارزې وزارت

ګرانو ځوانانو !

نیشه تاسو د همزولو له سیالۍ څخه پاتې کوي او
کورنۍ مو د بد مرغۍ سره مخ کوي، ځان ترې وساتئ !

دمخدره توکو معامله ګران دژورې په شان د بزګرانو او
بې وزلو خلکو له وینو څخه ګټه اخلي .

دولت د هر ډول تروریستي اعمالو، د مخدره توکو کارول
، قاچاق، تولید او مسکراتو د استعمال مخنیوی کوي.